PROPERTY OF ACKU

هفته نامه
جهاد هنداره
مراة الجهاد

هیئات مجاهدین بعد از دیدارازمسکو به جده بازگشت

جهاد هنداره ، ۲۶عقرب:
به اساس گزارش منابع خبری بین المللی هیات ۱۱ منری مجاهدین که تحت رهبری استاد ربانی جهت مذاکره بامقامات وزارت خارجه شوروی عازم مسکو گردیده بود بعد از دیدار پنج روزه ازمسکو عازم جده مرکز عربستان سعودی گردید.
اطلاعات رسیده حاکیست که هیأت طی این مذاکرات پنج روزه با مقامات شوروی روی یك سلسله مسایل ازجمله تشکیل یك حکومت موقت به عوض رژیم نجیب برای دوسال وبعدااجرای انتخابات تحت نظارت بعضی از سازمانهای جهانی ورهایی اسیران جنگی روسیه به موافقه رسیده اند ، این در حالیست که رئیس هیات مجاهدین هنگام رفتن به مسکو گفته بود که درمورد تشکیل حکومت ونوعیت ان هیچ نوع مذاکره راباروسها انجام نخواهند داد.

په هرات کي درژیم ۵۰۰ تنه ملیشه مجاهدینو ته تسلیم شول

دهرات ولایت یوه جهادي خبر ځاي رپوټ ورکړي چي په دي ولایت کي درژیم د۸۱۱ کندك مربوط ۵۰۰ تنه ملیشه مجاهدینو ته تسلیم شوي .
په خبرونو کي ویل شوي چي دغه ملیشه وو چي دنوموړي کندك درئیس ارکان په مشرۍ مجاهدینو ته تسلیم شوي له ځان سره په سل ګونو میله درنه اوسپکه وسله ، مختلف ډوله مهمات او ۱۰ عرادي موټر مجاهدینو ته راوړي دي .

دوهم کال،لسمه (پرله پسي ٦۲مه) ګنه ، چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال دعقرب ۲۹ مه،د۱٤۱۲ هـ ق دجمادي الاول ۱۵مه د۱۹۹۱ میلادي کال دنومبر ۲۰ مه نیټه

یك قرارگاه دشمن درولایت فاریاب فتح شد

به اساس گزارش دفترسیاسی شورای قوماندانان از ولایت فاریاب مجاهدین اخیراً یك قرارگاه بزرگ ملیشه های رژیم را در علاقه داری المار واقع درجنوب غرب وغرب شهر میمنه مرکز ولایت مذکور هدف سلاح ثقیل قرار داده درنتیجه یك قوماندان ملیشه بنام زمان همراه با ۱۷ تن از منسوبین وملیشه قرارگاه مذکور هلاك و ۲۲ ملیشه مسلح دیگر اسیر شدند.
طبق راپور طی این عملیات مقادیر زیادی سلاح ومهمات غنیمت شده است .

الحاج مولوي جلال الدین حقاني دجهاد هنداري له خبریال سره په مرکه کي:

مسکوته دهیئت په ورتګ دجهاد او مجاهدینو حیثیت ته بي عزتي واوښته

په دوهم مخ

معاون اسبق تنظیم محاذ ملی طی تبصره برسفر هیات مجاهدین به روسیه

مذاکره باروسها باید درکشورسومی انجام می یافت

درصفحه ۸

په هند کی ۲۵۰ ملیونه وګړی له لوږی سره مخامخ دی

دانګلستان داندی پیننډنټ دورځپاڼي یوخبر

په۷مخ کي

مصادره سازوبرگ نظامی شوروی درجمهوریت مالدویا

مسکو ، اژانس تاس:
رئیس جمهور جمهوریت مالدویا که جدیداً استقلال خویش را از روسیه اعلان نموده طی فرمانی امر نموده است تاهمه سازوبرگ نظامی حکومت مرکزی شوروی که فعلاً در جمهوریت مذکور موجود است مصادره گردیده وملکیت مالدویا قرار داده شود.
اژانس تاس در ادامه خبرمی افزاید اثاثه مذکور که شامل اسلحه ، مهمات وعراده جات نظامی می باشد جهت تشکیل ارتش جدید ومستقل مالدویا بکار خواهند رفت ، به اساس فرمان مذکور بر خارج نمودن این اشیا از مالدویا قیوداتی وضع گردیده است.

مجاهدینو په ګردیز کی ددښمن دقواو تعرضی حمله پرشاوتمبوله

دمزدور رژیم قواوو ته دسراومال درونډ زیان واوښت

په۷ مخ کي

اقدام کودتاعلیه گورباچف باردیگرنیز صورت گرفته می تواند

مسکو ، روزنامه پاکستان :
به اساس اطلاع اژانس خبری تاس معاون رئیس اداره جاسوسی کی ، جی ، بی طی مصاحبهٔ بایك روزنامه محلی گفته است که اقدام کودتا علیه گورباچف باردیگر نیز صورت گرفته می تواند.
معاون اداره کی ، جی ، بی گفته است که این اقدام کودتا از جانب افراد وابسته به کی ، جی ، بی که با طبقه سرمایه دار شوروی روابط نزدیك دارند ، صورت خواهد گرفت.

روسیه له بی شمیره اقتصادی ستونزوسره مخامخ ده

دغربیانو ٦۸۰۰۰ زره ملیونو دډوبیدو ویره

په ۸ مخ کي

دکابل رژیم له مسکو ښخه نوی جنګی الوتکی ترلاسه کری

«یو، ایس ۲٤» دوله الوتکی دچریکی هوایی حملو لپاره ترټولو موثری الوتکی شمیرل کیری

په۷ مخ کي

لیبیا ته دامریکا اخطار :

امریکا چی هرکله وغواړی پر لیبیا حمله کولای شی

په ۸ مخ کي

جګړن زرمیردحضرت عمرفاروق (رض) دغونډ مرستیال دجهاد هنداری سره په مرکه کی:

دافغانستان د کشالي دحل یوازیني لار دجهاد تداوم او د اسلامي حکومت جوړیدل دي

په۳مخ

که ضرورت پیدا شي نو دعراق پر ضد به قدم اوچت کړو

دامریکا کانګرس ته دجارج بش لیک

په ۸ مخ کي

سرمقاله

دمجاهدینو دهیئت اوروسیي ګډه اعلامیه دغور اوتأمل وړتکي

سره له دی چی روسیی ته دمجاهدینو دهیئت دتګ اوهلته له روسانو سره دافغانستان دقضیی دحل په اړه دمخامخ خبرواترو پر موضوع دبیلابیلو جهادی ځواکونو تر منځ دنظرونو اودریځونو څرګند اختلاف موجودۀ .
له یوی خوا هغوی چی دځینو ملحوظاتو له مخی دی سفر ته ډیر لیواله وو ، دمجاهدینو دهیئت سفر یی روسیی ته دجهاد په سیاسی ډګر کی یو ستر بری ګاڼه او داوړلیدنی کتنی یی زموږ دمجاهد ملت او جهاد په ګټه بللی اوداسی څرګندونی یی کولی چی دوی به ددغه سفر په ترڅ کی وکړای شی مقابل لوری (روسان) په دی قانع کړی چی په کابل کی دخپل مزدور او لاسپوڅی رژیم له مرستی او ملاتړ نه په بشپړه توګه لاس واخلی ، اوپه افغانستان کی دځوارلس کلنی جګړي له اړخه رسیدلی زیانونه جبیره کړي.
خوله بلی خوابیا دریو مؤثرو جهادی تنظیمونو، دسنګر نومیالیو قوماندانانو ،دهجرت په چاپیریال کی مجاهدو جبدودینی عالمانو په دغسی شرایطو او حالاتو کی له روسانو دافغانستان دقضیی دحل په اړه خبری اترې هغه هم ددوی پخپل کور کی په کلکه ردولی اوهغه یی شرعاً اوعرفاً دجهاد اواسلامی انقلاب دسترو ارمانو پر خلاف دیوناوړه عمل په توګه تلقی کاوه ، چی په دی لړ کی په مطبوعاتو دنوموړو جهادی

په ۲ام مخ

معاون حزب بهارتیه جنتا پارتی درانفجار بمی زخمی گردید

دهلی جدید ، ۲۵ عقرب :
به اثر انفجار شدید بمب در شهر امر تسر واقع ایالت پنجاب هند ۵ تن هلاك ومعاون حزب بهارتیه جنتاپارتی شدیداً مجروح گردید.
اطلاعات رسیده حاکیست این انفجار هنگامی رخ داد که داکتر پرکاش معاون حزب متعصب هندوها ازمعاینه خانه شخصی خود توسط موتر عازم منزل خود بود .
درایور ویك محافظ داکتر پر کاش نیزشامل کشته شده گان اند.
قابل یاداوریست که زخمی شدن داکترپر کاش وانفجار مذکور نشانهٔ از مخالفت وسیع مسلمانان وسك ها علیه حزب متعصب بهارتیه جنتا پارتی می باشد .

اسرائیل دملګرو ملتو دقراردادونو ښخه سرغړونه کوی

دملګرو ملتو سازمان دعمومی منشی په نامه دسوریی د حکومت پرانیستی لیک

په۷ مخ کي

له آزاد خوست نه تر کلابند ګردیزه

په۳ مخ کي

موږ دوسله وال جهاد له لارې پرخپل برې داده یو ، هیڅ ته داحق نه ورکوو چې پر موږ دخپلې خوښې حکومت تحمیل کړي

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

مسکوته دهیئت په ورتګ دجهاد او مجاهدینو حیثیت ته بی عزتي واوښته

مرکه کوونکي : محمد یعقوب

پوښتنه : محترم مولوی صاحب دګردیز پر ښار دخواستقامتونوڅخه مجاهدین په جګړه بوخت دی اوتراوسه یی تر کومو ځایونو پوری پرمختګ کړی دی؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحیم

مجاهدین دګردیز دغرب خوا «زرمت» څخه دحکومت کمربند مات کړی دی اودپرمختګ په حال کی دی اوفعلاً دولسوال په نوم پوستی پوری رسیدلی دی اودجنوب استقامت دستوکنو

څخه مجاهدین ښه پرمخ تللی دی ، ددښمن کمربند یی بیخي ختم کړی اودښوزیو په منطقه کی یی خپل مرکزونه جوړ کړی دی چی په دی حساب مجاهدین ګردیز ته دڅلور کیلو مترو نه هم نږدی دی همداراز مجاهدینو دجنوب غرب استقامت «چکن »څخه هم دحکومت کمر بند مات کړی دی ، دمیلن په استقامت هم مجاهدینو دحکومت کمربند مات کړی دی خوپه دی استقامت مجاهدین نه دی توانیدلی چی فتحه شوی ځایونه وساتی په دی ځای کی حکومت اوس په پخوانی خط قرار لری دتیری په استقامت هم مجاهدینو څوځله حکومتی پوستی ونیولی خوداچی تولی پوستی یی دقرارګاه پوری قطع نه کړلی نو دلته هم مجاهدین ونه توانیدل چی تولی فتحه شوی پوستی وساتی څکه په دی ځای کی حاکمی نقطی دحکومت په لاس کی وی.

دجنګ اوږدوالی دمجاهدینو دحملو اوهم دحکومت دتعرضونو په نتیجه کی حکومت ډیر کمزوری شوی دی ، پرسونل یی کم شوی دی همداراز دیخنی موسم سره دسوند مواد و دنشتوالی له امله دتکلیف سره مخامخ دی څکه دوی به پخوا دسوند مواد دپکتیا دغرونو څخه وړل چی داپری اوس قطع شوی دی اوبل ددوی ډیر جنګی خلك دکډو کولو په وخت په پټه اوښکاره دخپلو کډو سره کابل ته تللی دی هغوی هم اوس جنګ ته نه حاضریږی لوی چی کوم خلك دقندهار ، هلمند نه اودمزارشریف څخه ګلم جم

خو دوی هم دناکامی سره مخامخ شول نو دغو خلکو ته دلته تلفات هم ډیر رسیدلی اووخت پری هم ډیر تیر شو نوروارخطادی دلته پاتی کیدای نه شی نو ددوی په تګ سره هم حکومت کمزوری کیږی او ترټولو مهمه داده چی ورځ په ورځ مجاهدین پر مخ ځی چی ددی ښه مثال په روانه هفته کی دمجاهدینو له خوا هره ورځ دحکومت یویا دوه ټانکونه ویشتل شوی اویا

> ترټولو مهمه داده چي ورځ په ورځ مجاهدین پرمخ ځي چي ددي ښه مثال په روانه هفته کي دمجاهدینو له خواهره ورځ دحکومت یویادوه ټانکونه ویشتل شوي اویا هم روغ نیول شوي دي

اودوستم ملیشه راوړی دی ، هغه یی هم دیوه موقت وخت دپاره راوړی دی اودوی سره یی دپیسو اونورو امتیازاتو وعدی کړیوی ترڅو دمجاهدینو څخه فتحه شوی ځایونه بیرته ونیسی

روغ نیول شوی دی اوهم دتیری داستقامت له خوا څخه دشنبی په ورځ دعقرب په ۱۸ دحکومت یو لوی ډیپو اور واخیست داپه ګردیز کی دحکومت لوی ډیپو ؤ مخکی

په ٦ مخ کي

دمحلدینو دخلاصون لار مرګ اویا محاکمه !

دسید شهریار لیکنه

په تیره اونی کي دمجاهدینو دځینو تنظیمونو لخوامسکو ته دتللي هیئت په اړوند دبیلابیلو نظریو خلکو بیلابیل نظرونه څرګند کړل که څه هم دغه هیئت نه ټولوافغاني مجاهدینو ملاتړنه کاوه خو بیا هم څو تنو دمجاهدینو دهیئت په نوم اوعنوان مسکو ته سفر وکړ.

دنوموړي هیئت سره دموثرو جهادي ځواکونو نارضایت صرف اوصرف له همدي وجي څخه ؤ چي نه خوله ځانه سره دخبرو اترو کومه معلومه اجندا لري اونه خوله داسي استکبار نه چي دلرغوني افغانستان هره کته اولوټه یي دظلمونو او تیریو شاهده ده دخیراوښیګنې تمه شته . جهادي ځواکونو پدې هم ټینګار کاوه چي که مسکو واقعاً په افغانستان کي دسولي دراوستو غوښتونکي وي نو لومړی خو دي دلاس پوڅي رژیم سره خپلي اړیکي وشلوي ،افغاني مجاهدین دي دافغانستان اصلي نمایندګان وبولي او بیادي دغه خبري اترې په مسکو کې نه بلکه په کوم بل دریم ګړي هیواد کي ترسره شي .

خو ترڅنګه یي په هیئت کی شاملو په اصطلاح اعتدال پسندو دغه سفر دسولي دراوستو لپاره پر ځای ګام اودوخت اهم ضرورت وګاڼه .

لنډه داچي په ډیرو برخو او مواردو کي دهیئت دتګ په اړه دمجاهدینو ترمنځ خپل

> دغه بي دینان که واقعي په افغانستان کي دسولي دراوستواو امنیت برقرارساتلو غوښتونکي واي نو ولي به دادومره ویني تویدای ولي به دادومره ودانۍ په ویرانۍ بدلیدای اوولي به دادومره افغانان په نورو هیوادو کي دغربت اوافلاس نه ډډك ژوند سره مخامخ کیداي.

منځي اختلافات موجود ؤ اوموجود دي .

مورږ دلته ددهیئت دتګ په عواقبو اونتایجو څه ویل نه غواړو په دی لیکنه کي زموږ دبحث موضوع دروسانو دیوه مزدورداوتوبوتوځواب دي.

پېښبور کي دملحد اولاسپوڅی رژیم قونسل اودروسانو اصلي تالي څټي (قیوم) دي چې دغه هیئت یي دمجاهدینو دسیاسي اونظامي ساحو ماته بللي اوزیاته کړي یي ده چي مجاهدین باید خپله ماته ومني څکه چي دکمونیزم دټیکه دارانو اوښستګرانو مرکز مسکو ته دخبرواترو لپاره ولاړل،اوځني نوري اوتي بوتي یي هم له خولي وتلي چي نه یي سرمعلوم دي اونه پښې .

که دررژیم دنماینده دغوبې واکه اوبې باکه اوتوبوتوته فکر وکړونو رامعلومه به شي چي نوموړي له څومره بې شرمی نه هغه چي ددوي زوړ عادت دي کاراخیستي،هسي خو ددوي څخه دښواوړښتیا خبروتوقع بې ځایه فکر دي خودادومره احمقانه بیانیې

چي دي یې په پاکستاني ورځپانوکي ورکوي ددې معنی لري چي هغه دچاخبره «لمړیه دووګوتو پټوي ».

لومړي خوباید درژیم بریځی پخپل ګریوان کي سرښکته کړي اوفکر وکړي چي باید څوك ماته اوشکت ومني ایا هغه ملت هم چي دخپل دین دخوندي ساتلواوداسلامي هیواد دازادۍ لپاره د(۱۷) لکو تنو قرباني ورکولاي شي ، ماته خوړي شي؟اویا دماتې خبره زغملاي شي ؟

که چیري یواځي دهیئت په تللو سره افغانان خپله ماته مني اویا مسکو ته دهیئت تلل ددي معنی ولري چي افغاني مجاهدینو خداي مکړه واقعي ماته وخوړه نودرژیم تش په نامه واکدارانو خوداسي بې شمیره ماتې دهغو بې بلنو سفرونو په نتیجه کي خوړلي چي دوي یوه اوبل هیواد ته صرف دهمدي لپاره کړي چي په رارواننو وختوکي ځان دمسلمان اوسوله غوښتونکوپه نامه ځاي اویو ځل بیا په بله

په ۷ مخ کي

دکمبودیا اوافغانستان ورته قضیې بیلابیل حلونه

عبدالوکیل

کله چي په ۱۹۷۰ م کال کی دسرو خمیرانو په نوم کمونستانو دکمبودیا پاچا شهزاده سهانوك له قدرت څخه وغورځاوه ، په ټوله کمبودیا کی یی په افغانستان کی دخلقیانو اوپرچمیانو په څیر دوحشت اوبربریت توری وریځی خوری کړی.

سره خمیران چینایی ترنده کمونستان وو خو دکمونیزم په پیاده کولو کی یی ترټولو افراطی کړه وړه پیل کړل . دوی په نسبتاً لنډه موده کی دیوملیون څخه زیات بی ګناه کمبودیایان ووژل اوښاری تمدن یی دکلیو اوبانډو سره دتضاد اوددوی په اصطلاح دعدالت پیاده کولو ترنامه لاندی زیر او زبر کړ.

په ۱۹۷۸ م کال دروسانو په دستور ویتنامی پوځونو دسرو خمیرانو(پلپوت) رژیم له منځه یووړ اوپر ځای یی خپلو لاسپوڅو ته دسیاسی قدرت واګی په لاس ورکړ خو کمونستی استبداد اودیکتاتوری دوام درلود .

په داسی حال کی چی دروس کمونستی امپراطوری دافغانی مجاهدینو دبی ساری قربانیو او مقاومت په وجه ولړزیده اودهغی زوال پیل شو ، دامریکا متحده ایالات په نړی کی دیوازینی زبر ځواك په ښه راڅرګند شول اودنړی په ګوټ ګوټ کی دروسی کمونستی امپراطوری تغر په ټولیدو شونودکمبودیا حالات هم پخپل حال پاتی نه شول اوپه دی هیواد کی دکمونستانو سیاسی قدرت په ړنګیدواودسولی او ټولنیز عدالت څپی په خوریدو شوی.

څو ورځی مخکی دکمبودیا پخوانی پاچا شهزاده سهانوك دیوویشتو کالو څخه وروسته خپل هیواد ته راستون شو اودهغی شورا ریاست ورته وسپارل شو کومه به چی دموقت وخت لپاره دڅلورو مهمو اوعمده ډلو دګډ قدرت نمایندګی وکړی . دغه څلور ډلی دسهانوك طرفدارانوپه کمبودیا کی دکمونستی قدرت ضد غیر کمونستی ملی ازادی بښونکی جنبش،سره خمیران اودویتنام په لاس دکمبودیا پر سیاسی قدرت کینول شوي کمونستانو څخه عبارت دی.داسی څرګندیږی چی دوخت په تیریدو سره به په کمبودیا کی هم دکمونستانو وحشتونه په بشپړ ډول سره له منځه ولاړ شی اوپر ځای به یی غیر کمونستی قدرت قایم شی خو که چیری دچاله خوا دغه تجربه په میخانیکی ډول اویی له بنیادی بدلونونو اوتغیراتو څخه پرته په افغانستان کی هم تر تطبیق لاندی ونیول شی دنه جبران کیدونکو زیانونو اونه حل کیدونکو پرابلمونو سره به مخامخ شی څکه چی دافغانستان تاریخ ، کلتور ، روان ، اقتصاد ، سیاسی او ټولنیز جوړښتونه دکمبودیا سره زیات توپیر لری نو دافغانستان شخړه باید په اسلامی اوافغانی شیوه حل شی .

دافغانستان مجاهد ولس دتوری اووسله وال جهاد په میدان کی وګټله اودسیاست په ډګر کی یی هم نه ده بایللی.

په ۱۹۷۹ م کال کی پر افغانستان باندی دروسانو له نظامی مستقیم تیری څخه وروسته کله چی روسی کمونستانو داسلام او افغانی اسلامی خاوری دخپلواکه کولو په لار کی دافغانی مجاهدینو کلك ایمان اوبی دریغه سرښندنی په خپلو سترګو ولیدی نو ډیر زر یی دافغانستان مسئلی دسیاسی حل ناری سوری اوچتی کړی خو دافغانستان مجاهد ولس او ټولو جهادی تنظیمونو په یوه اتفاق اوواحد دریځ سره دافغانستان مسئلی دسیاسی اوسوله ایز حل پروسی دپیدایښت څخه تر ننه پوری په دی ټکی ټینګار کړی چی په افغانستان کی دجګړی اساسی اواصلی خواوی افغانی مجاهدین او روسان دی دکابل لاس کینولی رژیم دافغانستان مسئلی په اړوند دپریکړو دتطبیق صلاحیت او وس نلری نو څکه افغانی مجاهدین یوازی دروسانو سره په دی اړه خبرو اترو ته تیار دی خو دروسانو سره دمستقیمو خبرو اتروځای،اجندا او کړن لاری په رابطه دجهادی تنظیمونو نظریات هم دیو اوبل سره توپیر لری.

اما دغه توپیرونه هومره غټ اواساسی ندی ترڅو وکولای شی دجهاد اوپه افغانستان کی داسلامی حکومت درامنځ ته کیدو مخه ونیسی.

دافغانستان کشاله دباندینیو عواملو اونړیوالو بدلونونو څخه ګوښی اوبی تاثیره نشی پاتی کیدای نو په داسی حال کی چی روسان اوپه کابل کی ددوی ګوډاګی رژیم اوس تر بل هر وخت په دی ښه پوهیږی چی په افغانستان کی هم ددوی قدرت په ختمیدو دی اودافغانستان جهادی قوتونه ددی توان او زور لری چی په نظامی ډول سره هم هغوی راوپرځوی اوددغرو په میدان کی دمجاهدینو برلاسی دسیاست پر میز باندی هم برلاسی اوغوڅ تاثیر لری اوهمدا اوس داسی څرګندیږی چی نور به دپخوا څخه زیات اوپه خورا شدت سره به سیاسی اوسوله ایز ډول دافغانستان ددردوونکي مسئلی دحل په لار کی ګړندی ګامونه پورته شی خو دسیاسی خبرو اترو اوددی لاری څخه دنوموړی مسئلی حل کیدل دامعنی نلری چی مجاهدین به په وسله وال جهاد کی کمزورتیاراولی او مجاهدین په دی پوره باوری اویاقینی دی چی دسیاسی میدان ګټل دنظامی ډګر له ګټلو سره نه شلیدونکی اړیکی لری نو مجاهدین به دسیاسی هڅو ترڅنګ ترهغو پوری خپل وسله وال جهاد ته دوام ورکړی ترڅو چی په افغانستان کی په بشپړ ډول سره اسلامی حکومت نه وی قایم شوی.

دافغانستان د کشالي دحل یوازیني لار دجهاد تداوم او د اسلامي حکومت جوړیدل دي

مرکه کوونکي : محمد هاشم «رحیمي»

پوستنه : که مهربانی وکړی په لنډه توگه دجهاد هنداری لوستونکو ته ځان معرفی کړی؟

ځواب : زما نوم زرمیر ځاځی دپکتیا ولایت دځاځی اریوب ولسوالی اوسیدونکی یم خوامی په ځاځیو کی یوه جبهه درلوده او هم دمولوی صاحب خالص دغونډ مرستیال وم خو کله چی دځاځیو سیمه آزاده شوه دخوست خواته می مخه کړه او اوس مولوی صاحب جلال الدین حقانی پوری اړوند دحضرت عمر فاروق (رض) دغونډ مرستیال یم.

پوښتنه : که په لنډه توگه دهغه غونډ دتسلیمدو دځرنگوالی په باب لږ څه ووایی چی په ۱۳۵۷ کال کی مجاهدینو ته په ستو کنډو کی تسلیم شو؟

ځواب : د۱۳۵۷ په سرکی زه دتره کی دملحد رژیم لخوا داسلامی مبارزی په تورونیول شوم ، دزندان په دوران کی هغوی زیاتی شکنجی راکړی خو پردی بریالی نشول چی له ماڅخه اسناد لاس ته راوړی ، بالاخره دڅه موده بنده تیرولو وروسته خوشی شوم او دمغرزی غوند ته چی دستو کندو غرب خواته موقعیت لری راولیرلم ، مورله پخوا څخه دمجاهدینو سره اړیکی درلودی ، په پوح کی دشاملو ملگرو سره مو سلا مشوری وکری او تصمیم مو ونیوه چی گردیز به تسلیموو ، خو زمور ځنی ملگری ترافشا کیدو وروسته ونیول شول ، او پروگرام شند شو ، وروسته مو ددی لپاره چی تول پروگرامونو مو شند نشی ، دمغرزی غوند پر تسلیمولو چی ستو کندو سره نردی ددری په سیمه کی پروت ؤ اکتفا وکره .

پوستنه : په خوست کی مجاهدین څه پروگرامونه پرمخ بیایی؟

حواب : په خوست کی دتولو جهادی حواکونو په سطحه یوه گډه شورا ده چی دخوست سیمی تولی چاری دهمدی شورا تر نظارت لاندی سرته رسیږی ، مجاهدینو ددی سره سره چی وخت ناوخت ددسمن دسکد توغندیو دلگیلو او بمبارد سره مخامخ دی دخلکو داقتصادی او حینو نورو ستونزو سربیره دحینو سرکونو پلونو ویالو او کاریزونو دجوړولو کار مخی ته اچولی او کار هم په دیری چتکی سره پرمخ روان دی ، دخوست بری لاری او هغو ویالوباندی چی دشمل له خورخخه سرچینه اخلی اودخوست حمکی تری لاندی دی ، کارپیل شوی اودشمل خورپر سردیوه پله دجوړولو کار دپیل کیدو په درشل کی دی اوددی پرته زیاتره مجاهدین گردیز ته سوق شوی چی انشاالله دیر زر به پر گردیز عملیات پیل شی .

پوستنه : دافغانستان کشالی دحل په خاطر بیلابیلی طرحی وراندی کیری ، تاسو ددی مسلی دحل لپاره کومه طرح پیشنهادوی؟

> دتلي دمیاشتي په اتمه نیته په دوویجو مو ددښمن پرمورچلوتعرض پیل کړ ، دیوه ساعته تعرضي عملیاتو په ترڅ کي موددښمن ۱۰ پوستي او مرکزونه فتحه کړي

حواب : دافغانسان مسلی دحل لپاره چی خومره طرحی تراوسه وراندی شوی که هغه دملگرو ملتو لخوا دی یابل کوم هیواد لخوا مجاهدینو ته دمنلو ورنه دی او په افغانستان کی دتطبیق امکانات دهیح سره برابر دی

دافغانستان مسلی دحل یواحینی لار دمجاهدیو په لاس داسلامی حکومت جوړیدل اودجهاد تداوم دی ، دادتولو افغانانو دزړه غوستنه ده خو دافغانستان په کورنیو چارو کی دحینو استعماری حواکونو لاس وهنو او دمجاهدینو تر منح بی اتفاقی په دی لاره کی خه خنډونه پیدا کری چی اوس دمجاهدینو دلیکو دنردی کولو اوبهرنیو لاسونو دلندولو هلی حلی پیل شوی ، انشاالله دیر زر به وی چی مجاهدین په افغانستان کی دخلکو ارمان اوغوستنه سرته ورسوی.

پوستنه : دگردیز په روانو عملیاتو کی ستاسو غوند خه بریالیتوبونه لاس ته راوړی؟

حواب : زمور دغوند پوری اړوند مجاهدینو دزرمت له لوری پر گردیز دعملیاتو پروگرام نیولی ؤ دتلی میاشتی په ۸ نیتی په ۲ بجو مو ددسمن پر مورچلوتعرض پیل کر ، دیوه ساعته تعرض عملیاتو په ترخ کی مو ددسمن د۱۰ په شاوخوا کی پوستی اومرکزونه فتح کړل اودهغوی زیات شمیر وسلی اومهمات موپه غنمیت ونیول ، دگردیز ډنورو خواو په خیر زمور عملیات هم په بریالیتوب پرمخ روان دی اودیر زربه انشاالله په گردیز کی داسلام جنده ورپولی شی .

دوهمه برخه:

له آزاد خوست نه تر کلابند گردیزه

د م - ز - شفیقي لیکنه

په دی لوړو څوکو کی ددنگوونواو پرښو شاته دجگو شملو اولوړو ارادو او ارمانو خاوندانو ډېری وهلی دی ، چادور بینونه پر سترگو نیولی وړاندی دبنوزیو پر لومړی لیکه دجگړی ننداره کوی ، څوك له ځانه سره پسیږی اوچی ښه ځیر شی دخدای (ج) په ذکر به یی مشغول وینی یودخدای (ج) بنده همدلته هم له خپل

> لاندي په هواره کي خړ ، پر گردیز ښکاري ، کلابند گردیز چي څلورو خواوته یي توریالي غازیان پراته دي ، پرون به له دي ځایه زموږ دولس پر لوري دیرغل اوتاړاك لښکري راوتلي خونن مزدور پوځونه پخپله پکي کلابند دي

ستررب سره په راز او نیاز لگیا دی ، داشراق لمونځ کوی ، له خدایه په لمانځه او صبر مرسته غواړی ، خپلو یارانو ته ، خپلو غازیانو ته اوخپلو مومنو هیوادوالوته ، همدغه دځان او خپل ولس یوازینی اسره اووسله گڼی همدغه لمونځ له خپل رب سره ملاقات ، په عجز ولاړ دی ، خوپه همدغه عجز کی یی هم په ځیره کی یو ډول سکون پرتم او برم ځپی وهی ، دخدای (ج) په یاد کی یی زړه ډاډه شوی دی ، زموږ ددرست مجاهد ولس همدغه حالت دی ، بمونه اوری ، دتوپونواو راکټونو غرمبا غرمب پری جوړوی کورونه یی ویجاړیږی خو دزړه سکون او ارامی یی څوك نشی تروړلی ، ځکه په زړه کی یی دخدای (ج) یاد ویر ی او بنده گی ځای نیولی نوځکه داوسپنی او باروتو زور ته نه گونډه کیږی ، نه سلامی کیږی ، اونه خمیږی ، خود به همداسی وی که نه ! که دچازورگیر توپ اوټانگ ته یی دمقاومت لیکی ماتی شوی وای ، که دسکهو او نیپالم بمونو یی پسی ورلړزولی شوای ، که یی سرونه ټیټیدای شوای او چیټیدای نه نونن به یی دشلم قرن دمعجزی جوړولو تاج پر سرنه ؤ ، نن به یی دیوه بل یرغلگراو غاصب دشکت ویاړ په تندی نه ؤ لیك ،او نن به یی پر نړی دفاتح قوم ډنډوری نه غږیدی .

لاندی په هواره کی خړ پرگردیز ښکاری ، کلابند گردیز چی څلوروخواوو ته یی توریالی غازیان پراته دی ، پرون به له دی ځایه زموږ دولس پر لوری دیرغل او تاړاك لښکری راوتلی خونن مزدور پوځونه پخپله پکی کلابند دی ، همدغه دنن او پرون توپیر سړی ته ددی ډاډ هم ورکوی چی سباته به خامخا دلته هم دکفر بیرغونه رانسکور وی داچونی به هم دخوست په ځیر دفاتحو غازیانو تر قدمونو لاندی وی اوداسلام ویاړلی بیرغ به ورباندی رپیږی .

دقیقی په ساعتونو کی ډوبی شوی اوبالاخره دورځی رڼا هم وروورو دشپی توره جامه واغوسته ، رڼا په تیارو بدله شوه خو په هسی تیارو چی خاموشی ورسره نه وه ، له فضا نه دلمر نورانی سترگه پناه شوه خو دمیگ الوتکو کرسهارنه ، هغوی لالهانده اوسرگردانه دوری خوړلی ، موږ دستهوله لوړو سرونونه دتیارو په زړه کی بیرته ددری زړه ته را روان یو چی دوه ځله مو په بمونو بدرگه وشوه ، یوځل بیا راپه یاد شول چی موږ دمرگ په خیټه کی گرځو ، دلته هر دم او قدم له مرگ ، ټپ ، درد او زگیریو سره مل او لاس او گریوان دی .

دلته ده چی ددی ځای داوسیدونکو پر ثبات او حوصلو یو ځل بیا قایل شو ، ماویل دستهو کنډو لوړ دی ، داپه ځنگلونو پټ غرونه لوړ دی ، خوپه دی لوړوتوږو او گړنگونو کی چی چامورچل نیولی وو دهغوی همت او ارادی تردی ډیری لوړی اودنگی دی ، ومولیدل چی همدغه لوړ گړنگونه سکڼ توغندیو راښویولی وو خو دپتمنو شملو خاوندان لادرحمان بابا خبره لکه ونه مستقیم په خپل مکان پراته وو او دی .

دزدرانو دری کلی او کوورونه لکه له خوسته تر ستهو کنډو پوری نورهم همغسی وران دی ، کنډوالی دی ، ځای ځای خوداسی ویجاړ شوی وی چی سړی ته شك پیدا شی چی دلته به پخوا کله څوك اوسیدلی وی که نه خو چی ښه ځیر شی شاوخواوگوری

دشهیدانو بیرغونه به ډیر داستانونه درته وایی ، ډیری کیسی او حادثی به درته په مخکی دروی ، زما دولس دمظلومیت نخښی پخپل ځای پاتی دی ، دجابر او نامرد دښمن دوحشت اوستم یادگارونه ولاړ وی خو

دمجاهدینو د درنو وسلو یو ویاړلی مورچل

افسوس چی زما دغازی او باتور ځلمی دتوری او اتلولی نخښی نه وینم داسی نخښی چی پرون می لیدلی وی خو نن نشته ، څوکاله وړاندی زه په دغه لاره راغلی وم دلاری په اوږدو کی دسره پوځ او کمونیزم دلښکرو په لسگونو موټر او ټانگونه پراته وو ، چی له ایمانی هوډونو سره په مقابله کی ویجاړ شوی وو ، نن هغه ویجاړ ټانکونه او موټر ماونه لیدل ، ښایی زیات یی دغلام خان او میرامشاه بازار ته رسیدلی وی ، خو کاشکی داسی نه وای همدغه زموږ دمیړنیو غازیانو دتوری او میړانی نخښنی وی همدغه سوځیدلی ټانکونه او موټر .

داوطن نور اباد وطن نه دی ، هدیری ته پاته کیږی موزیم او دیوه دوران تاریخی یادگار یمی باید وبولو ، په هره ډېره دیوال ، دروازه ، ونه ... دیوی پیښنی نخښنه پاتی ده ، یوه حادثه پکی ثبت ده دیوه وحشی نظام دناځوانمردانه کړه وړو یوه بیلگه ، دیوه

په ٦ مخ کي

جهادي ادب

ناره مــې دتکبير چـې پـه وطـن وچـورليده
مـرې کـې دتـاسـاه دځـنـکـدن وچـورلـيـده
چـې بلـــې مـې ديــوي کـړلې دوينو په مورچل
نـغـمــه دآزادۍ مــې پــه گـلــشن وچـورليده

مناجات

ملا اسد الله حنيفي

ربه ټول عمر مـو تيـر شـو پـه هجران کې
ترمې اوښـکې موبـهـيږي په گريوان کې
شـولـې درازي دمــنـزل دمـزل مـرانـدي
کـړه مــو وصـل خپل منزل ته په يوان کې
قــافـلــه مــو سـتـړې شـوی ده لــه تلو نه
الهـي راسـره مــل شې پــه هــر ان کې
په انـگـړکـې مو ډيوی دوحدت مړې شوی
تــه يــې بلـې کـړه خاونده په خپل توان کې
تـور تـمـونـو دنـفـاق کـړو سره بيل بيل
ربـه تــه مــو کـړه يـو ځای افغانستان کې
چــې يـو مـوتـې يـو قـوت اويـواواز شو
خـدايـه تــه مــوداسـې لارباندې روان کې
ستــا قــانــون موچې شې پلې په وطن کې
داسـې کـړو تــه مو چمتو په داجهان کې
چـې آزاد مــو ټـول وطــن شـې لــه الحاده
راپــه بــرخــه داظـفــر پـه خپل احسان کې
چــې دنـيــا او اخـرت مـوپرې حسين شي
کړه او وړه مو خدايه هر وخت په قران کې
حـنـيـفـي درتــه نيــولي دواړه لاس دي
پــه نـصـيـب يـې شفاعت دخپل جانان کې

زه ولې مسلمان شوم؟

سوره نور ايه ۴۰

کله مې چې داايت ولوست نو زړه مې دمثال په غوره والي اودبيان په طريقه ډير تر تاثير لاندې راغی ، زما په خيال کې راغلل چې محمد (ص) به خامخا داسې څوك و چې ژوند به يې زما په څير په سمندرونو کې تيروی خو ددې خيال سره سره زما تعجب داسلام دستر پيغمبر دطريقې په کمال و هغه دگمراهانو بې ځايه لاس اوپښې وهل او هلې ځلې په څومره ښه اولنډه توکه بيان کړې وو ، لکه پخپله چې دشپې په تيارو کې دتوپان په توندو څپو کې اوډياغې اوبوپه موجونو کې په کښتۍ کې ناست وي اوديوه ډوبيدونکي سړي حالت گوري ، زه پوهيږم چې دسمندري خطرونو له سترو نه ستر ماهراوپوه هم په دومره لږ الفاظو کې دسمندر دخطرو دومره جامع او مکمل کيفيت نشي بيانولی .

خوله دې نه لږ وروسته ماته داخرکنده شوه چې محمد عربي (ص) امي نالوستی دی اوپه خپل ټول ژوند کې يې هيڅکله هم سمندري سفرنه و کړی ، له دې معلوماتو وروسته زما زړه روښانه شو ، زه وپوهيدم چې دادمحمد (ص) غږ «خبرې» نه دي بلکې دهغه خدای (ج) غږ «خبرې » دي چې دشپې په تياره کې دهر ډوبيدونکي بې حاصله هلې ځلې ويني ، مادويم ځلې قران ولوست او په ځانگړې ډول مې نوموړی ايت شريف ډير په غور ولوست اوس نو ماته په مخ کې له مسلمانيدو پرته بله هيڅ لاره نه وه نو ځکه دسيني له پراخيدو سره سم مې کلمه ووېله او مسلمان شوم.

سپيڅلې جذبې

پرديس

لـوخـړې دی لـمـبــې دی چـــې اوړي او رااوړي
دويــنـــو ســرې څـپې دی چــې اوړي او رااوړي
ســـپـــرلي رانــــه ورك شـــوی ، بـنـهـونه تالاشوی
سپــيرې يــخــې څـيلې دی چې اوړي او رااوړي
دودونــه پــورتــه کـيــږي ، اتــڼ کوی فضا کې
څــه تــوري گــردلـــې دي چــې اوړي او رااوړي
کــرار مــو کـــډه کـړی ، لــه زړونــو لـه هيواده
تــوپـــان دی زلـــزلـــې دی چـــې اوړي او رااوړي
تــاريـــخـــه هــيـــرې نـکـــړې ! لمن دی ورته نيسه
څـــه ستـــړې حــادثــې دی چې اوړي او رااوړي
جـــهــان يــې خــوځــولــې ، جهان يې پاڅولې
سپيڅلـــې مـــې جذبې دی چـــې اوړي او رااوړي
باغي پکې نسکور دی ، طاغوت پکې ايسار دی
دننـــگ او جنگ کيسې دي چې اوړي او رااوړي

ننګيالي او خاطرې يې

وگوریورته!

ښه ورته وگورې ، په دې عقابي سترگو کې دبې همتۍ څرك شته ؟! په دې اوچت سرکې چاته دټيټيدو اراده ترسترگوکيدای شي؟ دغه تندی به له خدايه پرته دبل په درشل کې په سجده ليدلی شو؟

نه ! هيڅ امکان نه لري ، اوکه چاته څه شك دی ، که څوك بياهم څه غوڅ حکم نشي کولی ، که يې زړه په دې خبره بشپړه گواهي نه ورکوی نو وگورې هغو پښوته چې همدغه تندی ، عقابي سترگې اوله شهامت نه ډکه تنه ورباندې ولاړه وه.

ولې نه ښکاري ؟ ولې شوټې بوټې دي؟ ځواب يې بس همدادی چې دشرف په لاره يې گامونه اخستي ، دپستۍ اوذلت پر لاره يې له تگ نه انکار کړی ، دشهادت او شرافت مورچل يې نيولی ؤ اودطاغوت پر ضد يې دجهاد تکبير پورته کړی ، ويې پيژنئ چې زموږ دجهاد اومقاومت يو هوډمن نماينده دی:

خان ميرخان دمير نازك زوی ددره گی ولسوالۍ اوسيدونکی اوپه قوم تڼی دی.

دمولوی حنيف شاه دجبهې تکړه غازی ؤ ۸ مياشتې وراندې هغه وخت چې خوست لاندې و فتحه شوی دگربزو په علاقه داری کې ديوه بريد په ترڅ کې يومجاهد ټپې کيږي ، خان مير خان هغه په اوږه کوی چې همدغه وخت يوماين ورباندې انفجار کوی اوپر بل ماين يې ورغوځوی ، هغه هم منفجر کيږي اوپه دغه پيښه کې دده دواړه پښې هم ورسره الوزوی يولاس يې هم کلك ټپي کيږي خو هغه بيا بيرته روغ شي اوس دادې شوټ زموږ مخې ته ناست دی.

دنور ځلې

لیکنه او ټولو نه: سيد عابدالله

داندلس امير عبدالرحمان الناصر په هسپانيا کې يو ډير ښکلی او زړه وړنکی ښارجوړ کړ، اوپه هغې باندې يې دمدينة الزهرانوم کيښود ، اوپدې باندې ډيرځ زياتې روپۍ مصرف شوې دهغه ښار په تعمير باندې ټولې ۱۰۵ لکه ديناره مصرف شوې دښار دجوړولو په وخت کې قاضي منذربن سعيد رح چې په اندلس کې نوميالی او مشهور عالم اودخپل وخت قاضي ؤ يوه ورځ چې په جامع جومات کې ډير زيات خلك راغونډ شوي وو ،او دحکومت غړي هم پکې وو په خطاب کې پدغه بې ځايه مصرف ډير سخت انتقادکړ اوپادشاه يې پدې کار محکوم کړ که څه هم پادشاه ددغه جامع تقرير تر اغيزې لاندې راغی خوبيا هم سرکش نفس داسې ښکاره تنقيد نشوزغملای نوقسم يې وکړ چې بيا به دقاضي منذر رح په امامت دجمعې لمونځ ونکړي ، له قسم وروسته عبدالرحمان الناصر په ډير ذهني کشمکش کې ډوب شودهغه وجدان دقاضي منذر «رح»په خبرو ډاډ درلود اوهغه يې رښتيا بللې خو نفس يې سرکشي کوله بالاخره عبدالرحمن دخپل تشويش درفع کولو لپاره ټولو خلکو ته دعوت ورکړ چې دمدينة الزهرا په هکله خپل نظر ورکړي اوپدې دعوت کې منذربن سعيد ته هم دعوت ورکړل شو قاضي منذر«رح» پداسې حال کې چې ډيرې ساده جامې يې اغوستې وې دربار ته راغی اوپه يو کنج کې کيناست کله چې پادشاه هغه وليده نوخپل څنگ ته يې راوغوښت ولې قاضي ونه منله ، دټولو څخه اول خپله پادشاه عبدالرحمان الناصر دوينا لپاره ودريده اوپه خپل خطاب کې يې داسې وويل:

داندلس دښار درنو اوسيدونکو تاسې ماته داسې ووايې چې ترماً مخکې کوم چا دمدينة الزهرا دښار په شان بې مثاله کارنامه کړيده ټول حاضرينو په يوه اواز ځواب ورکړ نه هيڅکله نه !

نو کله چې عبدالرحمان الناصر داځواب واوريده زيات خوشحاله شو اوله ډيرې خوشحالۍ څخه په جامو کې نه ځايده : بيايې منذز بن سعيد رح ته په خطاب کې ويل: جناب تاسې هم ددې ښار دشان اوشوکت په هکله نظر ورکړی ؟ منذز دلومړي ځل لپاره سرپورته کړ شاوخوا يې وکتل او همداسې چپ ولاړوو چې ناڅاپه يې دسترگو څخه داوښکو باران شروع شو پداسې حال کې چې په مجلس سخته چوپتيا خوره وه قاضي منذز په خطاب کې وويل اې امير المومنينه : زه دتل لپاره ستاسې خيرغواړم هيڅ گمان مې نه کاوه چې دومره زر به شيطان دوکه درکړي ډير ښه خويونه لرې خو افسوس چې اوس دکفر مقام ته ډير ورنژدې شوی غوږ ونيسه چې الله (ج) څه فرمايي اوقران عظيم الشان دغه ايت يې ورته ولوست

ترجمه : که داسې نه وای چې ټول خلك يوټولې شوی وای نو هغه څوك چې کافران دې مابه ورته دسپينو زرو کوروته ورکړ ی وای زينــې ، دروازې او تختونـه بـه مـې هـم ورتـه دسرو زرو ورکړ ی وای اوښه زينت اوارايش هم خوداټول ددنيا يوه متاع ده اواخرت دخدای (ج) په نزد دپرهيزگارانو دی .

اې امير المومنينه !

دادنيا ډيره بې وفا اوغولوونکې ده پام کوه چې ورباندې دوکه نشې ستاتير تاريخ په ښو کارنامو ښکلی شو يدی نو په دې کار سره خپل خدای (ج) مه خپه کوه !کله چې عبدالرحمان الناصر دقاضي وينا واوريده نو ډير زيات تاثير يې ورباندې وکړ اوسترگې يې له اوښکو ډکې شوې اوقاضي منذز دخپل جومات په طرف روان شو .

لږ وروسته دحکومت يو سپاهي په ډيره چالاکۍ راروان وو قاضي منذز چې هغه وليده ويې ويل داسې ښکاري چې بيا په عبدالرحمان الناصر باندې شيطان غلبه کړې او ښايي چې زما دنيولو فرمان دې راوړی وی ماله ډير وخته دشهادت انتظار درلود ، سپاهي ورته وويل نه داسې نده ! ته غلط پوه شوی يې ماتاته يو زيرې راوړی او هغه داچې عبدالرحمان الناصر امر کړی چې ټول قيمتي شيان له ښار څخه راوباسي .

پتـــه خـونـده تـهـول جـهــان ته يي خبر ورسيد
مؤمن افغان دکمــونــيــزم طلسمونه مات کړل
څومـره هيبت يي دجهاد په ستر تکبير کي پروت وو
پـــه يوه چـيغــه يــي دکبـر بنيادونه مات کړل

امریکا ، اسرائیل وکنفرانس «مادرید»!

ارسالي میدیا — بقلم احمد سعادت

کنفرانس صلح شرق میانه درمادرید پایتخت هسپانیه بدون رسیدن به کدام نتیجه پایان یافت ، موقف معاندانه اسرائیل وانکار قاطع شمیر وزیر اعظم ان کشور در ارتباط با تخلیه نمودن نیروهای غاصب صهیونستی از سر زمین های اشغالی فلسطین باعث ناکامی ان کنفرانس گردید ، موقفی راکه اسرائیل دران کنفرانس اتخاذ کرد چنین نتیجه گرفته شد که اوکمافی السابق خواهان صلح وامنیت در منطقه نبوده وبرعکس میخواهد که دامنه جنگ وکشتار را در سرزمین های اشغالی گسترش دهد ، واوفقط خواست که تحت سر پرستی بادارانش درحالیکه جهان خواهان صلح است یك بار دیگر دیگران رابسوی خود ملتفت سازد وچنین وانمود کند که گویا اوصلح میخواهد اما فلسطین ها وعرب ها (مسلمانها) اند که همیشه صلح رارد می نمایند درحقیقت اسرائیل نمیخواهد که از موقف خصمانه ومعاندانه خود پائین اید ومیخواهد که صرف قربانی رادرین صلح کشور های عربی بدهند ، اما اسرائیل باید بداند که او تا زمانی ازاین موقف دشمنانه خود پائین نه اید ومناطق اشغالی رادوباره برای فلسطینی ها مسترد نکند وبه ایشان اجازه تصمیم گیری را در ارتباط سرنوشت شان ندهد هیچ گاه تامین صلح صورت نخواهد گرفت.

این یك حقیقت مبرم است که مسولیت این همه تباهی وبربادی وعدم استحکام صلح وامنیت درشرق میانه بدوش اسرائیل است واین کنفرانس نام نهاد صلح راکه امریکا در مادرید برگذار کرد هدف از ان برسمیت شناختن اسرائیل بود اما فلسطینی ها دراین کنفرانس درمقابل موقف معاندانه اسرائیل طوری موقف گرفتند که حرکت های اسرائیل راکه پشت ان امریکا است خنثی نمودند وبرای ان ها واضح نمودند تاوقتیکه اسرائیل بیت المقدس راهمراه بافلسطین ودیگرمناطق اشغالی رهانکند صلح وارامی درشرق میانه باز نخواهد گشت بهمین خاطر بود که کنفرانس مادرید با وجود اشتراك گورباچف وبش ناکام گردید ، وان کنفرانس برای اهداف که تحت نام کنفرانس صلح ترتیب داده شده بود بدون ان که اهدافش راازاب بدرارد به صورت کل نقش براب گردید.

از انجائیکه اسرائیل سالیان دراز بر فلسطین های مظلوم به تشدد وبربریت خود ادامه میدهد درتاریخ نظیرش مشاهده نمی شود ، ودرهمین مدت طویل اوازی از جانب ملل متحد ویا امریکا بخاطر رهایی این قوم مظلوم وبی پناه سرداده نشد وهمیشه تاریخ گواه است که انها بکلی خاموش بودند ، اکنون که تاوپود قدرت نظامی وسیاسی روسیه بعد از شکست فاحش ان درافغانستان بدست پر توان مجاهدین اسلام از هم پاشید دیگر چاره بخاطر روی پای استاده شدن خود جز همنوا شدن با هم مسلکان قدیمش نمی یابد.

اینجا است که روسها درعوض که اعمال وحشیانه اسرائیل را تقبیح کنند واو را سرزنش نمایند در سدد بهبود تعلقات سفارتی خود باوی میگردند.

امروز که امریکا بزعم خودیکه تاز میدان است وبه حیث یك قدرت جهانی تبارز کرده است میخواهد تحت اسم نظام نوین جهان مسلمانها را قلع قمع نماید اولین نمونه انرا در نبرد با عراق مشاهده نمودیم همزمان امریکا برای اینکه بتواند هند را یك قدرت ضمنی درنیم قاره هند وپاکستان بسازد کمك هایش رابه پاکستان قطع ودرعوض زمینه رابه هند مهیا می سازد تابخاطر سرکوب ساختن مسلمانهای کشمیر وکشور مسلمان پاکستان آزادانه ودلیرانه گام بردارد ، مگر امریکا باید بداند که هندوها هیچ وقت دوست دیرین شان روسها را گذاشته دنبال هدایت اونمیکردند.

ظلم وتشدد اسرائیل بر فلسطینی های بی پنا روز بروز تشدید می یابد وهیچ روزی نیست که پناه گاهای انها توسط اسرائیلی ها مورد حمله قرار نگیرد حتی ازاین حالت رقت بار خود یهود ها بستوه امده چند روز قبل تقریبا ۳۰۰۰۰ یهود درتل ابیب بخاطر حمایه از صلح ومسترد نمودن مناطق اشغالی به فلسطین مظاهره نمودند ، این معنی ان را دارد که راهی راکه اسرائیل درپیش گرفته است روبه تباهی است همچنان کشتار روزانه فلسطینی ها توسط اسرائیل حیثیت چیلنجی رادر مقابل امریکا گرفته است زیرا بخاطر اسرائیل ظرفیت امریکا وملل متحد روز بروز خراب شده میرود اگر به این ترتیب امریکا به کمك های خود به اسرائیل ادامه دهد وکنفرانسهای مانند کنفرانس ناکام مادرید منعقد سازد ان روز دور نیست که امریکا صرف بخاطر اسرائیل دران مسیری گام زن خواهد بود که امروز روس تنها دران روان اند ودستش به گدایی بسوی دیگران دراز است ، بدین لحاظ باید حالت زار روسیه درس عبرت برای امریکا باشد.

از انجائیکه سازمان ملل متحد یك سازمان بین المللی است همه میدانندکه مسوولیت ان چه است اما تا هنوز کاری در قبال مسایل کشورهای اسلامی ننموده است.

چون دیده میشود که ملل متحد در محور امریکا می چرخد پس بر امریکا است که قضیه رابدون طرف واقع شدن مورد بحث قرار دهد ، امریکا باید اسرائیل راازبازی نمودن با خون انسانها در فلسطین منع نماید واسرائیل راوادار سازد که مناطق اشغالی را به فلسطینی ها مسترد نماید بدون ان راه حل دیگری وجود ندارد وهر کنفرانس مانند کنفرانس مادرید به شکست مواجه خواهد شد ، زیرا تا زمانیکه به فلسطینی ها حقوق شان داده نشده صلح وامنیت دران منطقه حکمفرما نخواهد بود وتمام مسولیت بدوش امریکا واسرائیل خواهد بود.

طوریکه دیده شد درکنفرانس مادرید شمیر وزیراعظم اسرائیل هیچ نخواست که بر مسله سرزمین های اشغالی حرف بزند گویا این مسله به کنفرانس هیچ ربط نداشت پس کنفرانس روی چه موضوع بود؟ اینقدر جنگ در فلسطین ، آواره گی ، ودربدری هابرای چه است؟ اشکار است که فلسطینی ها میخواهند سرزمین های شانرا دوباره ازدست صهونیزم غاصب اخذ نمایند ان فلسطینی ها که از بیت المقدس، ان جائیکه پیغمبر آخر الزمان محمد صلی الله علیه وسلم از آنجا به معراج رفتند وآنجائیکه قبل از مکه بر مسلمانها واجب بود که روی به ان نمایند وعبادت خالق یکتای خود را انجام دهند ، سجده نمایند ، عذر وزاری نمایند .اما امروز اهالی ان ازان جا تعبید میگردند ، شهید می شوند ، توهین میشوند بازهم

بقیه درصفحه۶

> در روز هاي که کنفرانس نام نهاد شروع مي گردید کمپ هاي مهاجرین فلسطیني توسط طیارات بم افگن اسرائیل غاصب چندین بار در نواحي اردن ودیگر مناطق غزه تهاجم صورت مي گیرد واهالي انجا بار دیگر درسوگ شانده مي شوند

> امریکا باید اسرائیل راژاز بازي نمودن با خون انسانها در فلسطین منع نماید ، واسرائیل راوادار سازند که مناطق اشغالي رابه فلسطیني ها مسترد نماید ، بدون ان راه حل دیگري وجود ندارد

دنور پر لور

زه ولی مسلمان شوم؟

ډاکتر عزینیه «فرانسوی»

دمصر مشهور ژورنالیست اوادیب « محمود مصری » روایت کوی چی :

زه ډیر کلونه په فرانسه کی اوسیدم ، په دغه وخت کی می دخپلو انډیوالانو له خولی دیوه ډاکتر ډیر صفتونه اوریدل ، شرافت ، رینبتنولی ، روښان خیالی حوصله ، اخلاص ، مهربانی ، میلمه پالنه اوبالاخره یوداسی نیك خوی اوصفت نه و چی زما انډیوالانو اوپیژندویو به په نوموړی ډاکترپوری نه نښلا وه ما فکر کاوه چی هغه به له مریضانو سره مینه اوښه چلند کوی خو مریضان پر ځای پریږده روغ خلك دهغه دمحبت یاران ښکاریدل.

دډاکتر صاحب نوم غرینیه و او دفرانسی دپارلمان غړی هم و چی همدا یی په خلکو کی دپوره نفوذ اومحبوبیت روښانه بیلګه وه ، خو دخلکو نظر بیا داو چی دډاکتر صاحب شخصیت تردی ډیر لوړ دی چی دفرانسی دپارلمان غړی دی وی ، ده چی دپارلمان دغړو منافقانه چلندونه ولیدل نو له غړیتوب څخه یی استعفا ورکړه ، دپاریس له شور او هنګامو ډك ښاریی هم پریښود اودفرانسی یوه لری خاموش کلی ته داستوګن لپاره ولاړ.

محمود مصری لیکی چی:

کله چی ماته داحال معلومه شو اوپه دی هم خبرشوم چی دغه ستر انسان داسلام په مبارك دین مشرف شوی دی نو په زړه کی می دهغه دلیدو توده هیله رااوچته شوه ، ترڅو لوترلوه داسلام دمنلو علت پوښتنه تری وکړم څکه خو زه هغه کلی ته ورغلم په کوم کی چی ډاکتر صاحب اوسیده ماته په لومړی ځل سمدستی داراز هم معلوم شو چی په دی کلی کی هم ډاکتر صاحب له غیر معمولی محبوبیت څخه برخمن شوی دی کله می چی لومړی ځل په هغه سترګی ولګیدی نو په زړه کی می دخوښی غوټی راوغوړیدی ، دهغه په تندی دمینی اوخلوص معصومو ستورو ځلکونه کول ، که څه هم هغه ډیر مصروف و خوپه ډیره مینه او ګرمی یی زه استقبال کړم ، په داسی ډول چی داسلامی ورورولی تعبیر و کله چی هغه له خپل کار نه ښه وزګار شو نوله یوڅو رسمی او معمولی خبرو اترو وروسته می تری وپوښتل چی :

ډاکتر صاحب ! ستا داسلام منلو سبب څه ؤ؟...

ډاکتر صاحب په موسکا ځواب راکړ :

«دقران کریم یوازی یوایت شریف»

مادوضاحت لپاره بیا تری وپوښتل :

ایا تاله کوم مسلمان عالم څخه قران لوست اودیوه ایت لوستلو پر تا دااثر وغورځاوه؟

ډاکتر صاحب وویل:

نه! ماتراوسه پوری له کوم مسلمان سره ملاقات نه دی کړی.

ما په تعجب ورته وویل:

نوتاکوم تفسیر لوستلی دی؟

ډاکترصاحب ځواب راکړ:

نه ما کوم تفسیر هم نه دی لوستلی .

مابیا ورته وویل نو داواقعه څه ډول پیښه شوه؟

ډاکتر صاحب داسی وویل:

زماځوانی په سمندری سفرونو کی تیره شوی ده ، زما دسمندر له منظرو اوسفرو سره دومره مینه وه چی تل به می داوبو مخلوقات خوړل ، ما به خپله شپه او ورځ داوبو او اسمان تر منځ تیروله اوپه دی به دومره خوښ وم لکه همدا می چی دژوندانه مقصد دی .

زما دوهم عادت دکتابونو دقیقه مطالعه وه ، کله به چی وزګار وم نو یو کتاب به می راوخیست ورته به کښیناستم ، زما دمطالعی همدغی مینی زه دقران کریم تریوی فرانسوی ژباړی پوری راورسولم ، ماددغه کتاب پانی اړولی چی دالنور سوره په یوه ایت می نظر کلك ونښت ، په دی کی یی دیوی سمندری منظری بیان راوړی ؤ مادغه ایت په ډیره دلچسپی سره ولوست ، په دی ایت کی یی دیوه ګمراه انسان په باب ډیر عجیب اوحیرانوونکی مثال راوړی و ، یعنی یو ګمراه انسان «کافر» داسی لالهانده او وارخطا لاس او پښی غورځوی ، لکه یو سړی چی په تیاره شپه کی په توپانی دریاب کی ترڅپو لاندی لاس اوپښی وهی.

ژباړه او مفهوم :

ددوی «کافرانو » مثال په شان دهغو تیارو دی چی په ژور سمندر کی وی ، چی دتیارو څپی وریاندی خپریږی ، دپاسه دنورو څپو اودهغی له پاسه وریځی وی .

ځنی تیاری دی دځنو نورو دپاسه که خپل لاس راوباسی ممکنه نه ده چی ویی وینی .

که الله (ج) چاته له روښنایی نه برخه ورنکړی نو هغه ته روښنایی نشته .

په ٤مخ کي

مسکوته دهیئت په ورتګ دجهاد ...

هم واره ډیپوکان سوځیدلی وو ، خو ددی برابرنه وو په دغه ځای کی دګردیز دجبهی قوماندان چارصد او اصف دلاور هم اوسیدل همدلته دحکومت ډیر وسایط وو او هم سیاری مخابری دلته ولاړی وی چی دامخابری دډیپو څخه یوه ورځ دمخه لګیدلی وی په دی ځای کی دښمن ته ځانی تلفات هم رسیدلی دی خو موږ ته دځانی تلفاتو په برخه کی پوره معلومات نه شته .

پوښتنه : که دتیری لارپه مکمله توګه بنده نه شی ایا مجاهدین به دګردیز ښار په فتحه کولو کی دمشکلاتو سره مخامخ نه شی؟

ځواب : تراوسه پوری دجنګ داوږدوالی یولوی سبب هم داو چی دتیری لار بنده نه وه نو که چیری په نږدی راتلونکی کی لار بنده شی ، نو جنګ به هم لنډ شی اوداالله (ج) په فضل به ګردیز فتحه شی اوکه چیری لار بنده نه شی نو کیدای شی جنګ اوږد شی خو دلاری دخلاص والی سره سره مجاهدین توانیدلی دی چی ددښمن ۶۰ نه تر ۷۰ پوری پوځی مرکزونه اوپوستی فتحه کړی.

پوښتنه : په ګردیز کی دکابل مزدور رژیم میشته پوځیانو اوپلویانو چی تراوسه هم دمجاهدینو دعفوی څخه ګټه نه ده اخیستی که ددی وروسته دجنګ په میدان کی ونیول شی ددوی سره به دخوست داسیرانو په شکل رویه وشی اوکه دخپلو اعمالو په جزا به محکوم شی؟

ځواب : طبعاً به دوی ته سزا ورکول کیږی ، ولی دخوست دصاحب منصبانو اوعسکرو په پریښودلو موږ ډیرخوښ یو ، ځکه دوی اوس زړه مفکوره پریښی ده اوبالکل په کی تغیر راغلی دی داځکه چی په روسیه کی هم کمونیزم مات شو اوتحولات په کی راغلل او داچی موږ ورسره هم ښه رویه وکړه ددوی مفکوره بدله شوی ده او دمجاهدینو سره همکاری ته چمتو دی ، عسکر خو دمجاهدینو سره په مرکزونوکی څنګ په څنګ دهغوی خدمت کوی اوتراوسه یی لوی خدمتونه کړی دی صاحب منصب هم چی موږ راوستی دی او تجربه کړی مو دی هغوی هم دی ته حاضر دی که چیری موږ اجازه ورکړونو لوی به دکار څخه دریغ ونه کړی ، نوزما په خیال به مسلمانانو او اسلام دپاره داپه خیر وی چی دګردیز صاحب منصبان اوعسکر هم معاف شی او ترمراقبت لاندی ونیول شی.

پوښتنه : دجګړی په جریان کی دکابل مزدور رژیم دپلویانو ځانی او مالی تلفات به څومره وی اودګردیز داوسیدونکو خلکو حالت څنګه دی؟

ځواب : زیاتو ولسی خلکو دحکومت سره همکاری پریښی ده اوخپل کورونه یی خروار ، چرخ اوپاکستان ته نقل کړی دی او ځینی کورنی کابل ته هم تللی دی .

دتلفاتو په هکله موږ مکمله احصایه نه لرو ځکه تراوسه موږ خپله احصایه نه ده راجمع کړی ولی زموږ دمعلوماتو له مخی دصاحب منصبانو اوعسکرو دمړو او ټپیانو تعداد ډیر زیات دی تاسو به اوریدلی وی چی کله دګردیز والی اودولایتی شورا رئیس انور حاصل مرداریده دهغه سره دلوړی سویه یو هیت هم ووژل شول ځینی خبری مبالغه امیزه وی چی دهغی کول پکارنه دی خو دومره ویلی شم چی مجاهدینو ۷ روغ رمټ ټانکونه ، ۱۰ توپونه ۱٤ ، پی ، بی ام ، ۳۰ موترونه ، شلکا ، هاوانونه اوډیر مهمات په غنمیت نیولی دی ، زما په یقین دخلورو خواوو څخه به دحکومت ۲۰ ټانکونه تخریب شوی وی همداسی به زرهپوشونه هم تخریب شوی دی په داخل دښار کی چی کوم وسایط دمنځه تللی دی ، زموږ په لاس کی دقیقه احصائیه نه شته ، کیدای شی په نږدی راتلونکی کی یی واخلو.

پوښتنه : دمجاهدینو دځنو تنظیمونو یو هیئت دپروفیسور برهان الدین ربانی په مشری مسکو ته تللی دی ، ترڅو دافغانستان دقضیی دحل په باره کی دروسانو سره دنږدی نه خبری وکړی تاسی داخبری اتری څنګه ارزیابی کوی؟

ځواب :موږ په څومرکو کی اوهم دسنګر دقوماندانانو په اعلامیه کی ددی هیئت تردید کړی دی ، موږ وایو چی دمجاهدینو او روسانو تر منځ مستقیمی خبری اتری باید دځو شرطونو لاندی وشی اوبی قیدو شرط مسکو ته ورتګ او ددوی میلمه کیدل اوځان ورته عذر غوښتونکی ښکاره کول روسانو ته یو برأت ورکول او داورته ویل چی نجیب نور مه حمایه کوی ، داشیان ټول دجهاد او مجاهدینووینی خرڅول دی ، دایوه بدنامی ده دایو ذلیل هیئت دی.

دروسانوسره زموږ خبری باید په څو شرطونووشی هغه داچی روسان باید دنجیب انتظامیه غیر قانونی اعلان کړی اووایی دایو ګوډاګی حکومت دبریژنیف اوکی ،جی ، بی له خوا په افغانانو تپل شوی اوخپلی سفارتی اړیکی ورسره حتمی کړی اودوی پر ځای یی دملت اصلی نمایندګانو مجاهدینو سره اړیکی تینګی کړی وای اودخبرو کولو دمخه باید اجندا معلومه وای او دخبرو کولو دپاره یو دریم هیواد ټاکل شوی وای ددی شرطونو نه وروسته دروسانو سره خبری کول که دهغوی په اجندا کی دبندیانو مسله ددولس کلن جنګ تاوان منل ، روسان او نجیب دجنګ مجرمان ګڼل او نور کیدای شی اوکه داسی نه وی روسان به ددی نه ډیره بده استفاده وکړی اودنیا ته به داسی ښکاره کړی چی مجاهدین موږته دعذر دپاره راغلل او موږ دجنګ مجرمان نه یواو هم به دګوډاګی رژیم سره شوی قراردادونو ته رسمی ښه ورکړی اوبل داچی دمجاهدینو په منځ کی دیوه بی اتفاقی واچوله روسانو ددی هیئت نه ډیری ګټی ترلاسه کړی نو په دی حساب داهیئت دمجاهدینو نماینده اوبا صلاحیته هیئت بالکل نه دی په دی باندی مجاهدینوته ډیر ذلت اوبی عزتی واوښته اودمجاهدینو اصلی دښمن اوډټول جنګ مجرم او مرتکب ته یی دبرات شکل ورکړاوداسی یی معلومه کړه چی مظلوم دظالم کور ته په ننواتی ورغلی وی بلکی په کار خوداده چی ظالم باید دمظلوم کورته په ننواتی او زاری ورشی نو دهیئت تګ مسکو ته مجاهدینو دپاره په تاوان دی.

> دروسانو سره زموږ خبري باید په څو شرطونو وشي هغه داچي روسان باید دنجیب انتظامیه غیر قانوني اعلان کړي اووایي چي دایو ګوډاګي حکومت دي چي دبریژنیف اوکي ، جي ، بي له خوا په افغانانو تپل شوي

پوښتنه : محترم مولوی صاحب اوس چی مجاهدینو ته دسیاسی قدرت دلاسته راتللو وخت رانږدی شوی دی ، نودسیاسی قدرت دلاسته راوړلو مخکی دیوه واحد قیادت ضرورت دی ستاسی په نظر باید دغه واحد قیادت څنګه رامنځ ته شی؟

ځواب : دواحد قیادت راتګ ددی لیډرانو په منځ کی ناممکن کار دی ځکه چی لوی سیاسی قدرت تقسیم کړی دی اوبیا هریو په خپل سیاسی قدرت کی داسی کوښښ کوی چی فقط ددی خپل تنظیم اوددی دخپلی خوښی خلك دده دخپلی خوښی مطابق په افغانستان کی قاید عام وګرځی چی قدرت لاسته راوړلو دپاره ددوه متضادو طریقو څخه کار اخلی یوه دجنګ اوبله دخبرو لاره.

خودی باید یوه لاره غوره کړی وای که دجنګ لاریی غوره کړی وای نو باید ویلی وای چی ترهغی به جنګ کوو ترڅو قدرت ته ورسیږو ، اوکه دخبرو لاریی غوره کولی نو باید دنورو سره یی ځان ګډ کړی وای اوقدرت یی په مجموع کی غوښتی اوچی هر څومره قدرت ورته رسیدلی په هغه یی باید اکتفا کولی ، نو دی منفرد او دخبرو له لاری قدرت ته رسیدل غواړی نوپه دی حساب ددوی تر منځ واحد قیادت ناممکن کاردی .

که داسی وشی چی قوماندانان دقوماندانانو دسرتاسری شوراچی مخکی هم دی نتیجی ته رسیدلی وو ترڅو یوه غونډه وکړی چی ددی شورا تر مراقبت لاندی یو ممثله شورا راوغواړی چی دغه ممثله شورا به افغانستان دټولو اقشارو ، اصنافو ،اخزابونه چی کوم مسلمان دی اودجهاد په ضد نه دی واقع شوی اودجهاد همکاری یی لږه یاډیره کړی ده دهغو قوتونو نه یوه ممثله شورا راوغواړی اوداممثله شورا بیا دواحد قیادت دپاره تصمیم ونیسی اوددغی ممثلی شورا مراقبت دقوماندانانو دسرتاسری شورا له خواوی نوبیا امکان لری.

له آزاد خوست نه تر کلابند ګردیزه

باتوز او مومن ولس دقربانی او میړانی یوه کیسه .

دلته به ګوری چی دلاری پر سر خاوری او ډبری راغونډی شوی لوه دری قبرونه جوړ دی ، شنه سپین بیرغونه وربانـدی رپیږی ، که څوك پیدا شی اوپوښتنه تری وکړی خامخا به دمردود اومتروك کمونیزم تاړاك یوه دردوونکی کیسه اوری .

او هلته بیا رنګ دیوالونه لویدلی اونیمی ویجاړی خونی دیوه ویجاړ کلی نمونه وی ، چی ډیر پسرلی او دوبی وربانـدی تیرشوی دی خو له کوم چت او دود کش نه چا دغرمی داورونو دود نه دی لیدلی ، په دغه ویجاړ انګړ کی اوس خراړی وی لیوان وی ... دکوم انسان غږ نشته ، دژوند اثار ورك وی ،هرڅه شاړ اوویجاړ وی ولی ؟!

ځواب بیا هم همغه دی همغه یو ځواب دی ...!

ددی ټولو ورانیو مسئول ، ددی ټولو تباهیو مجرم او ګناهګار ، بیاهم انسان دی هغه انسان چی له خپل فطرت او اصلیت نه یی مخ اړولی ، پرعقل یی دهوس پردی راغلی دمعنی لاره یی پریښی اودمادی په دام کی نښتی داالله (ج) بنده ګی یی پریښی دشیطان داطاعت غړوندی یی په غاړه کړی اچولی اودبغاوت په کاروان ورګډ شوی ...

نوربیا

امریکا ، اسرائیل وکنفرانس

کنفرانس روی موضوع صورت میګیرد که به اسرائیلی ها چه طور امن داده شود .

از قرائن این کنفرانس در روزهای اول معلوم می شد که منعقد کننده ګان ان میخواستند تحت نام این کنفرانس دام برای اسیر ساختن ابد فلسطینی ها توسط اسرائیل تهیه نمایند.

در روز های که کنفرانس صلح نامنهاد شروع میګردید کمپ های مهاجرین فلسطین توسط طیارات بم افګن اسرائیل غاصب چندین بار درنواحی اردن ودیګر مناطق غزه مورد تهاجم صورت میګرند واهالی انها بار دیګر درسوګ شانده می شوند .

چونکه این کنفرانس اساساً برای تامین صلح برګزار نګردیده بود بدون اینکه به کدام نتیجه برسد ناکام وحتی راه برای برګذاری باردوم اش هم باقی نماند واین کنفرانس ها اګر بازهم بر ګزار ګردند تا زمانیکه

اسرائیل به حق خود ارادیت فلسطینی ها تسلیم نګردد

ومناطق اشغالی رادوباره به نماینده ګان ووارسین اصلی

اش مسترد ننماید مفید نخواهد بود.

په هند کی ۲۵۰ مليونه وگړی له لوږی سره مخامخ دی

دپاکستان ورځپانه :
دانگلستان يوی ورځپانی اندپيندنت دهند داقتصادی بدی وضعی په اړوند يوه مقاله ليکلی چی پکی يادونه شوی چی په هند کی ۲۵۰ مليونه خلك دلوږی سره مخامخ دی چی کيدای شی زيات شمير يی دلوږی څخه مړه شی . دهند په ٤٤ کلن تاريخ کی دغه اقتصادی ظالمانه وضعه دهند داوسينو واکمنانو سياستمدارانو او راجه گانو دعياشی او فحاشی له امله راپيدا شوی چی بيلگه يی په اوسنيو وختو کی دبمبی ديوه راجه دزوی واده وو چی ديوی فلمی اداکاری سره ترسره شو ددغی واده ميلمستيا ۵۰ ورځی دوام درلود چی پکی ۵۰ زرو تنوته شاهانه خوراکونه ورکړل شول.
دهغه ځای څخه بيرون په کوم ځای کی چی دواده مراسم ترسره کيدل يوه ستره احتجاجی مظاهره وشوه چی دواده دمراسمو.

سخته غنده يی وکړه دمظاهره چيانو وينا ده چی دواده دغه مراسم په يوه داسی افت لړلی هيواد کی ترسره کيږی چيرته چی دورځی يوولس زره تنه دلوږی څخه مری خو زموږ واکمنان ددی ټولو سختيو باوجود پخپلو عياشيو اوفحاشيو کی ډوب دی اخبار زياته کړی چی دمظاهره چيانو چيغو دواده دمراسمو په تغيرولو کی هيڅ بدلون رانه ووست ځکه چی دهغوی گيډی غوړی وی اوډوډ و چيغو پری څه تاثير کولای نشو.

قحطی وقيمتی شديد در مناطق مرکزی کشور

خبرنگار ميديا از ايالت بلوچستان به نقل قول شاهدين عينی خبرميدهد طی يکنيم يانوماه گذشته صد ها فاميل از مهاجرين افغان از ولايات باميان ، وردك ، پروان و ولايت ارزگان به اثر سيلاب ناشی از بارانهای تابستان که از مناطق کوهستانی مرکزی افغانستان سرازير گرديده و اکثريت زمين های زراعتی وحاصلات راخساره مند ساخته به ولايات ديگر افغانستان وهمچنان به کويته بلوچستان وصوبه سرحد وهمچنان داخل ايران شده است.
طبق خبر به سبب قحطی شديد در مناطق مذکور قيمت ۷ کيلو گندم به ۲۵۰۰ افغانی صعود نموده مردم توان خريدن ان راندارد اکثر مواد اوليه خوراکی پيدا نمی شود ، مردم اهالی مجبور به فروش مواشی شده وراه هجرت رادر پيش گرفته اند ، وبه تعداد زيادی درهوتل های شهر کويته سکونت گزيده اند.
منابع می افزايد که همچنان تعدادی زيادی از مردم ولايت پروان وکاپيسا ازطريق لغمان به صوبه سرحد پاکستان مهاجر گرديده وبه اثر قحطی وبمباری رژيم کابل به کمپ های مهاجرين درنواحی پشاور مسکن گزين گرديده اند.

دکابل رژيم له مسکو څخه نوی جنگی الوتکی ترلاسه کړی

لندن ، پاکستان ورځپانه :
دکابل رژيم پدی وروستيو وختونو کی دخپلو روسی بادارانو څخه (۱۵) نوی جنگی الوتکی ترلاسه کړی.
په انگلستان کی خپريدونکی يوی نظامی نشريی (ايرانتهر نيشنل) ددی خبرپه خپرولو سره زياته کړی چی دغه الوتکی دايس ، يو ۲٤ ډوله الوتکو له جملی څخه دی چی په هوايی چريکی حملو کی خورا موثری بلل کيږی اوپه ډيری ټيټی مسافی کی د الوتلو توان لری.
کابل رژيم ته ددغه الوتکو ورکول پداسی حال کی چی روس اوامريکا په دواړو متحاربو ډلو دوسلو دبندښت فيصله هم کړی ده داپه داگه کوی چی روسان لادکابل رژيم څخه لاس اخيستنی ته تيار نه دی نوموړی نشريه ليکی چی دکابل رژيم دايس ، يو ۲٤ ډوله الوتکو په لاس ته راوړلو سره دنړی څلورم هيواد شميرل کيږی چی وروسته له ليبيا ، سوريی ، اوعراق نه له روسيی څخه دغه ډول الوتکی لاس ته راوړی.

اسرائيل دملگرو ملتو دقراردادونو څخه سرغړونه کوی

نيويارك ، رويتراژانس :
دسوريی حکومت دملگرو ملتو دسازمان عمومی منشی «پريزديکويار» ته ويلی دی چی اسرائيل بايد دگولان په غونډيو کی يهوديانو ته دکليو له ابادولو منع کړای شی .
دپريزديکويار په نامه په يوه پرانيستی ليك کی دسوريی حکومت ناظم الامور ويلی دی په هغه څه چی اسرائيل لگيا دی هغه دملگرو ملتو دسازمان دپريکړه ليکونو څخه ښکاره سرغړونه ده .
پدی ليك کی په ډاگه شوی چی اوس غواړی دگولان په څوکو کی يهوديانو ته دنوی کلی بنسټ کيږدی پداسی حال کی چی د«مادريد» دسولی کنفرانس لومړی دور ختم شوی اوددوهم دور لپاره يی انتظار کيږی .
هغه زياته کړی چی اوس هم اسرائيلو دگولان په غونډيو کی ۳٤ کلی اباد اوپه زرگونو يهوديان يی هلته ځای پر ځای کړی.

مجاهدينو په گرديز کی ددښمن دقواو تعرضی حمله پرشاوتمبوله

دجهاد هنداری خبريال ، دعقرب ۲۵مه:
دجهاد هنداری خبريال په گرديز کی دالحاج مولاناجلال الدين حقانی له جهادی مرکزونو څخه خبر راکوی چی زړورو مجاهدينو دشنبی په ورځ دمجاهدينو پرمرکزونو دملحد رژيم يوه لويه حمله په شاوتمبوله دغه حمله چی دښمن دسهار په اوويجو پيل کړی وه دماښام تر۵ بجو پوری يی دوام درلود ، خبر زياتوی چی دمجاهدينو داوسپنيز مقاومت په نتيجه کی ددښمن شپږ ټانکونه ويجاړ اودوسلو يوه لويه ډيپو له منځه لاړه خبر زياتوی چی مجاهدينو دبرياليو عملياتو په نتيجه کی دښمن ته ډير ځانی تاوان هم واوښت چی په سلگونو تنه يی مړه اوټپيان شول.

دملحدينو دخلاصون لار مرگ ...

ځيره دمظلوم ملت دتباهی اوبربادی پلانونه پلي کړي دوي خو په دغو سفرونو کې دخپل مقصد دترلاسه کولولپاره ځانونه يواځې دروسانو تالي څټي نه بلکه دغربيانواوامريکايانو تالي څټي اوغلامان هم معرفي کړي ترڅو دځان ساتلو اوخپلوناوړه مقاصدودپوره کولولپاره دغربيانواو امريکايانو مرسته اوملاتړ هم ترلاسه کړي تردې پورې چې دمزدور رژيم مشر چاچی به ټول عمر په خوله دامريکا دسرمايه داري نظام سره دمبارزې او کلك مخالفت ډنډورې غږولې په يوه مرکه کې وويل : (داسرائيلو ملگرې اودامريکايانو مداح يم) څومره دشرم خبره ده چې ټول عمر يې ورسره دمقابلې اومبارزې خبرې کولې اواوس يې دومره په اسانه غيږې ته وروغورځيدل خو ددې هرڅه سره سره ملحدين پخپلو ټولوناکاميو سترگې پټوي اومسکو ته دهيئت تگ ورته دمجاهدينو ناکامي ښکاري خو ورسره دومره فکر نه کوي چې ايا نوموړې هيئت پخپل سر مسکو ته تللې اوکه نه کومه بلنه ورکړاې شوې ده.
روسانو خو په افغانستان کې دشرميدلې ماتې څخه راپديخوا په رنگارنگ دسيسو او توطئو گوتې پورې کړې ترڅو دځان لپاره په اصطلاح يوه دوړو پوزه کيږدې روسان خوله يوې اوږدې مودې راهيسې پدې کوښښ وونو بوخت و، ترڅو دمجاهدينو سره دخبرو اترو لارې پرانيزې خو مجاهدينو په وار وار دروسانو دغه غوښتنې وړاندېزيونه اوبلنې نه يواځې داچې رد کړې بلکه په کلکه يې غندلې هم دې ځکه داخو دهمدغه مؤمن او ميړنې افغانان دې چاته به چې دوې اشرار ،غله او فراريان ويل ايا دفراريانو سره هم څوك خبرواترو ته کيني؟ هو مقابل لورې ورسره په هغه صورت کې خبرو ته کيني چې خپله ماته ومني بله لارنه وې نوخبروته غاړه ږدې.
هغه بيله خبره ده چې دنوموړې هيئت سفر به څومره زيانمن اوڅومره گټور ثابت شي ځکه موږ ښه پوهيږو چې روسان اوس دافغانانو څخه دنظامي ساحې دعبرتناك شکست کسات دمېزترشا اخيستل غواړي اوپدې هڅه کې دي ترڅو دخپلو مزدورانو لپاره دخلاصون لارې چارې ولټوي اودا'ينده لپاره يې هم دخپلو کټو لپاره استعمال کړي ، ملحدينو هم دروسانو ددغو هلو ځلو سره سم خپلو تبليغاتي شبکو ته دفعاليدوامرونه صادر کړي ترڅو دهغه مسلمان ملت خلك په کومو چې يې ديوه ظلم صرفه هم نده کړې کورونه يې ورته په کنډوالو بدل کړي دڅورد بدمرغي کودتا په سوغات کې يې ورته وير ، ژړا ، انگولا ، مرگ اوژوبله ورکړيده نن پدې وغولوې چې موږ هم دسولې د راوستو لپاره له اقتدار څخه لاس اخلو ترڅو دقهرمان ملت هغه خلك چې دوسلې اوبرچې په زور يې دځان تابع نکړاې شول پدې ناوړه تبليغاتو تيرباسي.
همداوجه ده چې گوډاگې نجيب شپه اوورځ دخارجيانو سره په مرکو کې همدايوه خبره کوي چې دسولې دراوستو لپاره له دندې څخه گوښه کيدوته تياريم.
دحيرانتياخبره خو داده چې ددندې څخه دگوښه کيدو نه منع کړې چادې ؟
دغه بې دينا ن که واقعي په افغانستان کې دسولې دراوستو او امنيت برقرار ساتلو غوښتوونکې واى نو ولې به دادومره وينې تويدلې ولې به دادومره ودانې په ويرانې بدليداې اوولې به دادومره افغانان په نوروهيوادو کې دغربت اوافلاس نه دړك ژوند سره مخامخ کيداې ؟ ايا دغه ملحدين دومره نه پوهيدل چې دادومره ستره او اوږده وياړلې جهادي مبارزه دڅه لپاره ده اوڅه غواړي .
خو ملحدين به نن ولې دادفريب اوچل نه ډکې ډنډورې نه غږوې دوې خو پخپلو سترگو خپله ماته وليده اوخپل مرگ وينې دوې خو په مسکو کې نن دخپلو هغومشرانو بد حالت وليد چې دوې به ورته دتعظيم او احترام نه لاس په نامه دريدل ، دمسکو په بازارونو لارواوکوڅو کې راښکل شول خلقيانو اوپرچميانو چې دکوم انقلاب دپرمختگ چغې وهلې دهغې په نوم خونن دهغې خپل بنسټگران او ټيکه داران شرميږې هغوي نن پخپله پدې اعتراف کوې چې کمونيزم يوازې او يوازې دبې وزلو ملتونولپاره له وحشت اوبربريت څخه ډکه حادثه وه ، هغه چې ځانونه يې دکمونيزم بنيادگران بلل ياخويې ځانونه پخپله ووژل او يا خو په هغو بنديخانو کې شپې ورځې تيروې په کومو کې به چې دوې دانقلاب ضد عناصر !! اچول .
نوپه داسې ستونزورو حالاتو کې نجيب اوده بريڅې مجبور مکلف دې چې دمقابلې اومجادلې پر ځاې دسياسې حل لار ونيسي اوپخپلو تيروجناياتو ظلمونو اوستمونو دبطلان کرښه راکاږي ، او ځانونه يو ځل بيا دغه مسلمان ملت ته دسوله غوښتونکو په جامه کې را وړاندې کړي خو داسې کله کيداې شي داخو همغه افغانان دي کوم چې ددوې اوددوې دبادرانو له لاسه زوريدلې ، درديدلې اوکړيدلې دي آيا ددوې هغه خونړې فاجعې چې دافغانستان کټه اولوته يې شاهده ده دافغانانو له ياده وتې شې؟
نه ميخکله هم نه افغانانو چې دادومره بې شميره قربانۍ ورکړې ستره اوويارمنه مبارزه يې پيل کړې ستونزو او کړاوونو ته يې غاړه ايښې دافقط داسلام دسرلوړې دوطن دازادۍ او دملحدينو دورکيدنې لپاره اوترڅو پورې يې چې دغه مرام نه وي ترسره شوې دغه دحقې لارې مبارزه به په همدې ترتيب دوام لري اوددغې مبارزې دمخنيوي لپاره ددښمنانو ټول چالونه او فريبونه هيڅ ځند اوځنډ نشي را ولاړولي ، ځکه مجاهدين پدې پوره باور او يقين لري چې اخري سوبه اوفتحه به انشاالله دحق وی اودحق ده او ورسره هغه ورځ هم لرې نه ده چې دغه تش په نامه سوله غوښتونکي هم دمجاهدينو دبرياليو غورځنگونو په نتيجه کې يادتورو خاورو ميلمانه شي اويا هم دهمدغې بې وسلې مسلمانانو په عدالت کې دمجرمانو په صفت دمحاکمې لپاره ودريږي ، بله لار نشته که هر څومره او تې بوتې له خولې وباسي لار همدا ده مرگ يا محاکمه !

دمجاهدینو دهیئت اوروسیې ...

تنظیمونو دمشرانو او مسوولینو مرکی او څرګندونی ، دالحاج مولانا جلال الدین حقانی په مشری دپکتیا ولایت دجهادی قوماندانانو ګډه اعلامیه ، دکابل دقوماندانانو ګډه اعلامیه ، دیرشمیردینی علماو شرعی فتوی او...زموږ ددی خبری څرګند ثبوت دی.
له دی سره سره بیا هم هغوی چی ددی سفر تکل او هودیی کړی و په دی بریالی شول چی دمجاهدینو په نوم او عنوان یی یو هیئت چی په ترکیب کی یی دبیلابیلو تنظیمونوبولس تنه شامل وو ، دروان کال دعقرب په ۱۸ نیټه سعودی عربستان او په سبایی بیا له هغه ځایه مسکو ته سفر وکړی.
داچی دی هیئت دخپل سفر په دوران کی له کومو ځایونو اوچا سره لیدنی کتنی وکړی ، وخت په وخت دډله ایزو نشراتی وسایلو له لاری پری تبصری اوڅرګندونی وشوی دلته یی تفصیل ته اړتیا نه لیدل کیږی ، دهیئت دڅلور ورځنی سفر په پای کی دواړو خواودغه ګډه اعلامیه خپره کړه؛
۱- پر افغانستان باندی دروسانو وسله وال تیری غندنه وشوه.
۲- دواړو خواوی په افغانستان کی دیو مؤقت اسلامی حکومت ته دقدرت په انتقال موافقی ته ورسیدل.
۳- مجاهدینوهیئت ددی مکلفیت دسرته رسولو ژمنه وکړه چی دقدرت تر انتقال څخه دوه کاله وروسته به آزادانه انتخابات کوی ، دغه انتخابات به دملګرو ملتونو اواسلامی کنفرانس دسازمان په مرسته سرته رسیږی.
۴- دهغو ټولو قراردادونو، چی دروسانو اوپه افغانستان کی ددوی دمرستو پر بنسټ ولاړو رژیمونو تر منځ شوی،درد اوقبول واك به عبوری حکومت ولری.
۵- دواړو خواو پریکړه وکړه چی دجنګی بندیانو دآزادولو په برخه کی به له هیڅ ډول هڅوڅخه دریغ ونکړی ضمناً دمجاهدینو هیئت سرلی ته درسیدلو په خاطر ژمنه وکړه چی دروسی دبندیانو لومړنی ډله به ۱۹۹۲ کال دجنوری په لومړیو کی له بنده خلاصه کړی.
۶- دروسانو له خوا ژمنه وشوه چی دجنوری دمیاشتی له پیل څخه دمخه به خپل مزدور رژیم ته جنګی وسایل اودسون موادو لیږل قطع کړی ، اوپه افغانستان کی به خپل پوځی پرسونل راکم کړی اوبالآخره ټول به دافغانستان څخه وباسی.
۷- شوروی اتحاد به دافغانستان دبیاودانولو په پروسه کی حتماً برخه واخلی.
۸- ددغی اعلامیی دپریکړو په عمل کی دپلی کولو په خاطر به په یوه میاشت کی یو ګډ کمیسیون جوړشی.
خوپه هغه ګډه اعلامیه کی چی دروس خبری اژانس تاس خپره کړی ددی یادونه هم شوی ده چی روسان به په خپل مزدور رژیم دپوځی تجهیزاتو قطع کول دروسی جنګی بندیانو دخوشی کولو دمسللی دانکشاف اوپرمختګ په صورت کی تر غور او بررسی لاندی ونیسی.
داچی دواړه خواوی په اعلامیی شاملی پریکړی په عمل کی پلی کړای شی اوکه نه ؟روسان دافغانستان دقضی دحل په اړه ریښتینی دی اوکه نه؟ ، دمجاهدینو له هیئت سره په کړیو پریکړو نور جهادی ځواکونه متفق دی اوکه نه؟ داهغه پوښتنی دی چی دوخت په تیریدو او دحالاتو په لیدو سره پخپله ځوابیدای شی ، موږ دلته به دی ګډی اعلامیی کی ځینو برخو ته چی دزیات تأمل وړدی یوه لنډه کتنه کوو؛
لومړی خو داچی دمجاهدینو دهیئت مشر تردغه سفرنه دمخه دیو مطبوعاتی کنفرانس په ترڅ کی څرګندونه کړی وه چی دوی مسکو ته ددی لپاره سفر نه کوی چی ګوندی له روسانو سره دراتلونکی حکومت په تشکل اوپنه خبری وکړی ، له دغه سفر نه ددوی یوازینی هدف دادی چی روسان په دی قانع کړی دخپل مزدور رژیم له مرستی او ملاتړ نه په تمامه معنی لاس واخلی او مجاهدین دافغانستان دواقعی نماینده ګانو په توګه وپیژنی، خو په ګډی اعلامیی کی دیاد شوی مؤقت اسلامی حکومت موضوع چی تر دووکلونو وروسته به دملګرو ملتونو او اسلامی کنفرانس دسازمان په مرسته ازادانه انتخابات کوی ، داجوتوی چی هیئت دافغانستان دمجاهد ملت دجهاد اواسلامی انقلاب غوښتنی او ارمانونه له یوی مخی له پامه غورځولی او داتری هیره وی چی مجاهد افغانان هیڅکله هم دنورو له خوا تحمیل شوی حکومت منلی او زغملی نشی اونه چاته داحق ورکوی چی دروس یا امریکا په خوښه اوغوښتنه ددوی سرنوشت وټاکی ، داپخپله دمؤمنو افغانانو کار دی چی خپل سرنوشت پخپله وټاکی ، دا چی څوك حکومت جوړوی اوڅه وخت او څنګه انتخابات کوی ، ددی پریکړی حق همدوی لري اوبس.
په عامه توګه په ګډه اعلامیه کی کوم نوی اوپاملرنی وړټکی نه لیدل کیږی،ځکه چی: په افغانستان باندی دخپل تیری غندنه خو روسانو لفظاً دمخه هم کړی ، پښیمانی یی ښودلی اودهغی یوه بیړیر مخکنیو واکمنانو وراړولی ده ، خو عملاً یی داسی اقدام نه دی کړی چی دوی پخپله وینا کی رښتینی وښیی. پخپل مزدور رژیم باندی دوسلو اوحربی تجهیزاتو قطع کول خوپی لادمخه هم له امریکی سره دیوی ګډی اعلامیی په ترڅ کی هم اعلان کړی وو. خواوس یی دمجاهدینو له هیئت سره په ګډه اعلامیه کی دمجاهدینو له خوا دروسی جنګی بندیانو دخوشی کولو دموضوع دپرمختګ اوانکشاف شرط هم پری دپاسه کړ.
دمجاهدینو دهیئت ددی غوښتنی په وړاندی چی روسان باید دافغانستان دروانی جګړی ټول زیان جبیره کړی ، په اعلامیه کی داماده چی روسان به دافغانستان دبیاودانولو په چارو کی حتماً برخه اخلی ، هم دتأمل وړخبره ده ځکه دافغانستان مجاهد ملت دافغانستان روانی جګړی اودافغانستان دوبجاړیدنی چی اوس هم عملاً دوام لری اصلی عامل او مسوول روسان ګنی اواوس ټول نړیوال دهنیت داخبره منلی ده ، اومؤمن افغانان دنړیوالو اصولوله مخی داخپل روا حق بولی چی په نړیواله سطحه روسان دمحاکمی میز ته راوړاندی اودجګړی له اړخه رسیدلی زیان پری جبیره اوتاوان یی تری واخلی،دیادونی وړده چی په اعلامیه کی پر دغه ماده دهیئت موافقه هیڅکله هم زموږ مجاهد ملت نمایندګی نشی کولی اونه روسان یوازی دافغانستان دبیاودانولو په چارو کی په برخی اخیستنی سره له دغه تاوان ورکولو نه برات حاصلولی شی.
لنډه داچی په ټوله اعلامیه کی کوم نوی شی چی زموږ دمجاهد ملت غوښتنو ته مثبت اودقناعت وړځواب ووایی په نظر نه راځی اونه تری داڅرګندیږی چی ګوندی روسان دی اوس هم دی ته تیار وی چی دخپل مزدور رژیم له مرستی اوملاتړ نه لاس واخلی ، بلکی داتری ښکاری چی دروسانو ټولی هلی ځلی اوهڅی دخپلو بندیانو دخلاصولو لپاره دی نه دافغانستان دقضیی دحل لپاره،موږ په ځغرده وایو چی دمجاهدینو په نوم او عنوان دهیئتونو دغه ډول سفرونه زموږ مجاهد ملت ته کومه ګټه نلری ، خو زموږ ددین او وطن دښمنانو ته یی ګټه ضرور رسیدلی ده ، ځکه دوی وکړای شول چی په دی وسیله دجهادی ځواکونو تر منځ اختلافات راولاړ ، صفونه او دریځونه جلا اویو پر بل یی باوره او شکمن کړی....
اوس چی زموږ انقلاب دوروستی بری په پړاو کی دی اوهغه شیبی په رارسیدو دی چی زموږ مؤمن وګړی دجهاد ثمره ترلاسه اوستر ارمان یی ترسره شی ، باید زموږ جهادی قیادتونه اومشران هراقدام دجهاد او انقلاب دارمانونو او مصالحو په پام کی نیولو سره وکړی،کیدای شی چی دخپلو ځانګړو غوښتنو او انګیزونه په تیریدو اودیوه واحد صف په رامنځ ته کولو د طاغوتی ځواکونوتوطیی شنډی او دانقلاب دبری په لار کی خنډونه او ځنډونه له منځه یوسو.

ومن الله التوفیق

که ضرورت پیدا شی نو دعراق پر ضد به قدم اوچت کړو

واشنګتن ، دفرانس پرس اژانس :
دامریکا جمهور رئیس جارج بش ویلی دی چی دی پر کویټ سیمو باندی دعراق دپوځ دمسلسلو تیریو اودعراقی کردانو سره دناوړه سلوك په هکله خورااندیښمن دی .
نوموړی دامریکا کانګریس ته په خپل یوه لیك کی ویلی دی چی دعراق له خوا دکویټی بندیانو نه خوشی کول دامریکا لپاره داندیښنی وړخبره ده.
بش همدارنګه دعراق پر جمهور رئیس صدام حسین تورولګاوه چی دی خوراکی مواد ذخیره کوی اودخپلی خوښی مطابق هغه تقسیموی ، ده زیاته کړه چی دعراق حکومت ته لازمه ده چی دخپلوخلکو مشکلات په خپله حل کړی.
جارج بش په خپل لیك کی څرګنده کړی ده چی دعراق پوځونو دخپلی وسلی لپاره په پرله پسی توګه دکویټ پر سرحداتو تیری کوی ، هغه زیاته کړه چی امریکا دعراق ددی فعالیتونو په غور سره مطالعه کوی اوکه ضرورت پیدا شی نو کیدای شی چی دعراق پر خلاف قدم اوچت کړو.

روسیه له بی شمیره اقتصادی ستونزوسره مخامخ ده

مسکو ،دنوای وقت ورځپاڼه :
دنړیوالو خبری منابعو دخبرله مخی ویل شوی دی چی روس له سختو اقتصادی ستونزو سره مخامخ دی اوپه روسیه کی دبهرنیو هیوادونو بانکی معامله کوونکی پدی ویره کی دی چی دروس اقتصادی ستونزی ددوی د بانکی پیسو لپاره خطر ګرځیدای شی دهمدی امله دالمان کمپنیو په روسیه کی دمعامله داری څخه انکار کړی اوغوښتنه یی کړی چی په هغه صورت کی به دروسی بانك سره دمعاملی تړون وکړی چی دالمان دولت دپیسو دنه ورکیدو ضمانت ورکړی بلی خواته غربی تجارانو هم اندیښنه څرګنده کړیده چی روسیه به ددوی ۶۸۰۰۰ زره ملیونه پور خلاص نشی کړای ځکه چی روسیه پخپله له ستونزورو حالاتو سره مخامخ ده اونه وروسره دومره وس شته چی دغربیانو قرض ورکړی اودا هغه پیسی دی چی غربیان دروسانو په خارجی بانك کی دتجارت او ګټی لپاره داخلی کړیدی .

روس ــ د خپلو قرضونو د ادا کولو توان نلري

لیبیا ته دامریکا اخطار : امریکا چی هرکله وغواړی پر لیبیا حمله کولای شی

واشنګتن ، دعقرب ۲۵ مه:
دامریکی دسپینی ماڼی یو ویاند ویلی دی چی امریکا کله چی وغواړی پر لبیا حمله کولای شی ، او همدا اوس دلیبیا پرخلاف دګڼو عملیاتو لپاره تیاری نیول کیږی .
نوموړی ویاند زیاته کړی ده چی امریکا دلیبیا پرخلاف دسفارتی فعالیتونو څخه پرته پر نظامی فعالیتونو باندی هم فکر کوی .
دیادونی وړده چی دلیبیا پر ضد ددغه فعالیتونو دکولو خبری هلته راپیدا شوی چی امریکا پر لیبیا تور ولګاوه چی دری کاله مخکی دامریکا دهوایی خطوطو مربوط «پان امریکن» مسافر وړونکی الوتکی په راغورځیدو کی چی ۲۷۰ تنه مسافرین پکی مړه شوی دلیبیا حکومت دمخفی پولیسو دوه کارکوونکی لاس لری .
دسپینی ماڼی نوموړی ویاند زیاته کړی چی دامریکا جمهور رئیس جارج بش دلیبیا دمشر «معمر القذافی» ددی ښکاره ترورستی عمل پر ضد دګڼو پلانونو دجوړولو لپاره دنړی دنورو هیوادونو له مشرانو سره خبری اتری کوی،

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي تاون پیښور
تیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»

دهیواد په تودومورچلو کی

بلخ :
دقوماندانانو شورا دسیاسی دفتر درپوټ مطابق دبلخ ولایت مجاهدینو دمزار شریف دښار په شمالی لوری کی دبلخ ولسوالی څخه په ۲ کیلومتره فاصله کی درژیم له قواوو څخه ۵ کلی ازاد کړی اوخپل بریدونه یی درژیم پر مرکزونو ګړندی کړی .
رپوټ وایی مجاهدینو ددولت آباد ولسوالی تر فتحی وروسته درژیم یو منصبدارا۱۱ تنه ملیشه نیولی او دری عرادی ټانکونه ، ۱۸ میله درنده وسله ۱۵۷ میله کلاشینکوفونه ۵ میله زیګاویك ، څلور میله پی،کا،ماشیندار دری پایی توپونه اوه میله ار پی ، جی اوه راکټونه اویو شمیر لوژستیکی مواد یی ولجه کړی دی.
پروان :
دپروان ولایت نه دمیډیا درپوټ له مخی مجاهدینو دبګرام دهوایی ډګر په امنیتی پوستو باندی تیره اونی بریالی عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی یوه پوسته فتحه کړی اودښمن ته یی درانه ځانی او مالی تاوانونه اړولی ، همدارنګه دیوه بل برید په ترڅ کی مجاهدینو دهوایی ډګر په شاوخوا ددښمن یو ټانك تخریب اوپنځه تنه ملیشه یی له منځه وړی .
کندز :
دقوماندانانو شورا دسیاسی دفتر درپوټ له مخی مجاهدینو دکندز ښار دباغ میری په سیمه کی درژیم پریوه کاروان برید وکړ چی په نتیجه کی درژیم ۱۶ تنه دخاد غړی وژل شوی او یو تن صاحب منصب یی ژوندی نیولی .
هرات :
دهرات څخه دقوماندان اسماعیل خان درپوټ له مخی مجاهدینو دزنده جان ولسوالی دجنوب لویدیځی سیمی پر پوستو برید وکړ چی ددرنو وسلو په ډزو یی دملیشو دوه پوستی فتحه یو شمیر عسکر او ملیشه یی ځپلی اویوه اندازه وسله یی په غنیمت نیولی ده،
بادغیس :
به اساس راپور میدیا ۲۰ تن از افراد رژیم بشمول ۳ تن از صاحب منصبان ان با استفاده از عفو عمومی مجاهدین بصفوف مجاهدین پیوستند ، افراد مذکور ۳۰ میل کلاشینکوف ومقداری از مهمات نظامی رایکجا با خود تسلیم مجاهدین نمودند.
وردك ،میدان :
دوردګو ولایت له مرکز میدان ښار څخه دقوماندانانو شورا سیاسی دفتر رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دسفید خاك په سیمه کی ددښمن پرپوستو حمله وکړه چی په نتیجه کی درژیم دوه پوستی فتحه کړی (۱۶) تنه عسکر او ملیشه مړه او ۸ تنه نور یی ټپیان کړل.
رپوټ وایی پدی عملیاتو کی مجاهدینو ۱۰۰ میله ډول ډول سپکه او درنده وسله په غنیمت نیولی ده.

معاون اسبق تنظیم محاذ ملی طی تبصره برسفر هیأت مجاهدین به روسیه

پشاور ، میدیا :
خیلی ها بهتربود اگر برای مذاکرات با روسها بجای مسکو محل دیگری برگزیده میشد وهمچنان روی اجندای بحث میشد که ازسوی همه مجاهدین مشترکاً تهیه می گردید.
وی علاوه کرد ، اکنون که هیأت مجاهدین مصروف دیدار ازمسکو است لازم است تاهیأت مجاهدین درجریان مذاکرات مطالعه نماید که جانب روسیه در زمینه قطع مداخله در افغانستان ودست برداشتن از بر سر قدرت نگهداشتن حکومت دست نشانده درکشور ما تا چه حدودی خلوص نیت دارد.
داکتر فاروق اعظم گفت : رهایی اسیران روسی باید درمذاکرات بخشی از حل قضیه افغانستان باشد ومزید برآن بر روسها است تا نسبت به مداخله شان در افغانستان معذرت بخواهند.
وی افزود؛درمذاکرات پیرامون حکومت دست نشانده کابل باید هیچنوع مذاکره صورت نگیرد.
همچنان ضرور است تااین حق به مجاهدین داده شود که حکومت دلخوا شان در افغانستان ایجاد نمایند.